


# الرسالة

Al-Risala

Ketabton.com

## پنځمه ګڼه – مۍ، ۲۰۲۵ز

«خو هغه دین چې د ده له خپل ژوند سره په ټکر کې راځي، چې د «دا وکړه او هغه مه کړه» غوښتنه ورنه کوي، له هغه سره د ده هېڅ دلچسپي نه وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرسالة
Al-Risala

## پنځمه گڼه – مې، ۲۰۲۵ز

سرپرست: مولانا وحیدالدین خان

ژباړه: رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| داود عربو مشرکینو کردار | ۱۱ |
| د رسول الله اخلاق | ۱۶ |
| د منکرینو مزاج تل یو شان و | ۲۲ |
| په اوسنی زمانه کې اسلامي غورځنګونه | ۲۵ |
| قارون څوک و؟ | ۴۰ |
| زید بن ثابت انصاري رض په شپږو ژبو پوهېده | ۴۴ |
| په دې خبره پاچا په ژړا شو | ۴۹ |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه کلیزه

چې ستاسې په خونه کې ځوړنده ده، په هغه کې ۲۰۲۵ لیکل شوي، که تاسې غواړئ چې په کلیزه کې مو ۳۰۲۵ لیکلي وي، نو د دې لپاره باید پوره یوه پېړۍ انتظار وکړئ. په یوه مصنوعي کلیزه کې په خپل لاس هر عدد لیکلي شئ. خو هغه کلیزه چې د دنیا په نزد هم کلیزه وي، پر هغې باندې د ۳۰۲۵ د لیدلو لپاره له یوې پېړۍ انتظار پرته بله چاره نشته.

## په دې دنیا

کې چې د کلیزې لپاره چې کوم قانون ټاکلي دي، هماغه قانون د ملي رغونې لپاره هم دی، په شعارونو او پاروونکو ویناوو که د ملت اینده لیدل غواړئ، نو هر سهار یا ماښام د لفظونو سېلاب ولاړولي او دغسې یو خیالي محل بنا کولي شئ، خو د واقعي راتلونکي رغونه له اوږدمهاله هلو ځلو پرته ناممکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له قضاوت دمخه پلټنه وکړئ

په قرآن کريم کې د اجتماعي ژوند په تړاو د احکامو په ډله کې يو حکم دا هم دی:

**«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ»** (حجرات- ٦)

ژباړه: اې مؤمنانو خلکو! که يو فاسق (سړی) څه خبر درته راوړي نو ښه پلټنه کوئ، هسې نه چې کوم قوم ته په ناپوهۍ سره څه ضرر ورسوئ، بيا په خپلو کړو پښېمانه شئ.

دا ډېره مهمه لارښوونه ده. ډېری وختونه داسې کېږي، چې خبر راوړونکي نيمگړی خبر راوړی وي، نو که اورېدونکی په همدومره خبره قضاوت وکړي، نو ارومرو به په غلطفهمي کې مبتلا شي او که بيا اقدام وکړي، نو و دې شي چې يوه بې گناه سړي ته د سزا ورکولو په مجرم لاس پور کړي.

د همدې لپاره څوک چې له زړه نه له خدايه وېره لري، د هغه لپاره اړينه ده، چې په اورېدلو خبرو پلټنه وکړي. په تېره هغه خبره چې د يو چا په خلاف شوې وي. دغسې خبره بې پلټنې منل ډېره شديده اجتماعي گناه ده. داسې کار هماغه څوک کولی شي، چې زړه يې د خدای له وېرې خالي وي. يا په شعوري يا لاشعوري توگه د خپل ځان د لويي دروغجن احساس ورسره پيدا شوی وي، او په دې گمان وي، چې که ما د چا په خلاف بې گناه اقدام هم وکړ، نو ماته به څه تاوان را ورسوي.

په دې ځای کې به ځينې داسې پېښې راوړو، چې په دې به مو پوه کړي، چې څرنگه يوه خبره په ظاهر کې سمه، خو په حقيقت کې بالکل ناسمه کېدلی شي.

**۱-** په صحيح بخاري کې له عباده بن الصامت نه روايت دی، دی وايي، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم له جومات نه راووت، چې موږ له ليلة القدر نه خبر کړي، چې دغه شپه کله وي، په دې وخت کې دوه مسلمانان په جنگ اخته شول. نو د دې شپې علم بېرته واخيستل شو (**فرفعت**).

له دې نه شيعه حضراتو دا استدلال کړی دی، چې د ليلة القدر شپه يوازې يو ځل راغلې وه. او اوس د همېش لپاره اخيستل شوې. په ظاهره د حديث «فرفعت» لفظ ته په کتو د هغوی خبره سمه ښکاري. خو له دې لفظ نه وروسته الفاظ دا انگېرنه ناسمه ثابتوي، په دې چې وړاندې ويل شوي دي:

**«و عسى ان يكون خيرا لكم فالتمسوها فى التاسعة والسابعة والخامسة**.»

ژباړه: و دې شي چې په همدې کې ستاسې لپاره خير وي. نو دغه شپه د روژې مياشتې په نهمه شپه، اوومه شپه، او پنځمه شپه کې ولټوئ.

دا عبارت راته وايي، چې له «**رفعت**»نه مراد دا دی، چې د دې شپې د تعيين علم پورته شوی دی، نه دا چې پخپله د قدر د شپې وجود ختم شوی دی.

**۲-** امام ابو حنيفه رحمه الله په يوه باغ تېرېده، ځينو ښځو سندرې ويلې. ښځو چې ابو حنيفه<sup></sup> وليده، نو غلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې. امام صاحب وفرمایل **قد احنستن**؛ یاني ښه کار مو وکړ. ځیني ملګري چې له امام صاحب سره روان وو، هغوی امام صاحب ملامت کړ، چې تاسې موسیقي ښه کار ګڼئ، دا خو الهي معصیت ته د خلکو هڅونه او تشویق ده.

په ظاهر کې دا نیوکه سمه ښکاري. خو ځواب ته چې وګورو، نو خبره به بالکل یو بل شی ښکاره شي. امام ابو حنیفهرح له خپلو ملګرو نه وپوښتل، چې کله هغوی سندره ویله، نو هله ما **احسنتن** وویل، او یا چې کله هغوی غلي شوې، بیا مې وویل. خلکو ځواب ورکړ، چې کله غلي شوې بیا مو وویل. نو امام صاحب وویل:

«**الله اکبر، اردت احسنتن في السکوت لا في الغناء**» یاني ما د هغوی خاموشي ښه وګڼله، نه د هغوی موسیقي او سندرې.

**۳- په الوعي الاسلامي** میاشتنۍ (کویت) کې یوه لوستونکي د نیوکې په ډول لیکلي دي: «**لقد ذکرتم في جوابکم علی خطاب احدالقراء في مجلة الوعی الاسلامی العدوا الصادر فی اول جمادی الاولی ۱۳۸۶، ان الخلافة (الاسلامیة) موضوع تاریخی لا یمکن ان یکون له صلة بحاضرنا**.»

ژباړه: د خپلې رسالې یوه لوستونکي ته په ځواب کې تاسې لیکلي دي، چې (اسلامي) خلافت یوه تاریخي موضوع ده او زموږ په اوسنیو حالاتو پورې کومه اړیکه نه لري. له دې نه وروسته لیک استوونکي، ایډیټور ته لیکلي دي، چې دا ستاسې جهل کېدلی شي یا تجاهل. که نه وي دا یو حقیقت دی، چې خلافت یو شرعي حکم دی. د مسلمانانو تر منځ په دې کې خو اختلاف شته، چې څوک د خلیفه کېدو مستحق دی. خو په دې کې هېڅ اختلاف نشته، چې د خلیفه ټاکنه واجب ده.

په ظاهر کې دا نیوکه سمه ښکاري، خو چې ځواب ولولئ، نو بالکل بې بنیاده به درته ښکاره شي. د رسالې مسؤل مدیر په ځواب کې لیکلي، چې موږ چې کوم لیک ته په ځواب کې دا خبره کړې وه، په هغه کې د خلافت اصولي مسئله تر بحث لاندې نه وه، بلکې یوازې دا پوښتنه وه، چې په لومړني دور کې خلافت د حضرت ابوبکر حق و یا د حضرت علي.

«**فالکلام اذن صریح فی انه کان عن موضوع**: **من احق بالخلافة، ابوبکر ام علی. لا علی موضوع موضوع الخلافة نفسها**.»

ژباړه: نو ښکاره ده، چې دا خبرې اترې د هغې موضوع په هکله وې، چې د نبي کریم ص له وفات نه وروسته د خلافت د منصب مستحق ابوبکر و او که حضرت علي. پخپله د خلافت مسئله په دې کې تر بحث لاندې نه وه.

ایډیټور لیکلي دي چې په دې مسئله نن ورځ بحث کول بې ګټې دی. څه چې کېدل، هغه شوي دي.

موږ ولې په دې بحث کې ځان مصروف کړو. اوس خو باید د نن ورځې په خلافت بحث وشي نه د ماضي په خلافت باندې. (**الوعی الاسلامي، کویت، اکتوبر ۱۹۶۶**).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سفر مو د ډېر لرې دی

یوه مشر عالم یوه تعلیمي اداره جوړه کړه. په اولنیو ورځو کې یاده اداره له ډېرو ستونزو سره مخ شوه. ښوونکو ته به په وخت تنخوا نه رسېده. د زده کوونکو لپاره به د لیلیې او ډوډۍ چاره سخته وه. درسونه به یې په خېمو کې ورکول، او دغه ډول بې شمېره ستونزې وې، چې کله یاد مرکز خپل سفر پیل کړ.

خو که ستونزې له انسان نه ځینې شیان اخلي، نو همداسې ځینې شیان ورکوي هم. د ظاهري وسایلو کمی د عزم او ارادې د زیاتوالي سبب ګرځي او په انسان کې داسې جذبات پیدا کېږي، چې په پرېماني کې هېڅ کله نه شي پیدا کېدلی.

د دې تعلیمي ادارې د ابتدایي زمانې پېښه ده. یوه ورځ په ټوله اداره کې ناهیلي خپره وه. حالات ډېر نازک ښکارېدل. د ادارې مدیر استادان او زده کوونکي راټول کړل او وینا یې پیل کړه، او بې اختیاره یې له خولې ووتل:

«په اوسنیو حالاتو کې به ممکن ستاسې زړه درته وایي، چې دا چېرته بند پاتې شوئ. که کوم جوړ تعلیمي مرکز ته تللي وای، نو په سکون سره به مو شپې سبا کړې وې. خو دا د وارخطا کېدو خبره نه ده. ځکه که نور خلک د حال وارثان دي، نو تاسې دلته یو نوی راتلونکی جوړوئ. خلک تاریخ لوستونکي وي، خو تاسې ته خدای یو داسې مقام په لاس درکړی دی، چې له ځانه تاریخ‌ساز جوړولی شئ.»

دغه څو توري چې په کومو حالاتو کې ویل شوي وو، په هغو حالاتو کې یې د تندر او برېښنا کار ورکړ. په زده کوونکو او استادانو کې یوه نوې جذبه راپیدا شوه او د ژوند له یوه لوړ اخلاقي ارزښت سره اشنا شول، هغه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د اينده سازي لپاره بايد په اوسمهال کې هلې ځلې وشي. که دوی په هغو حالاتو کې نه وای، نو ممکن لـه رواني پلوه به يې دغه ارزښت نه و درک کړی. کـه دوی د هوساينې او سوکالۍ په حالت کې وای، نو دغه تـوري به يې له خولې نه وو وتلي. مدير لـه دې املـه دا خبـرې وکولی شوی او اورېدونکو په دې سبب پرې پـوه شـول، چې دوی په ستونزمنو حالاتو کـې ښـکېل وو. د اسـانتيا په فضا کې دوی دغه درس نه شوی اخيستلی.

هغه خلک چې ځان په ستونزو کې ومومي، هغوی دا حالت د ځان بدمرغي گڼي، حال دا چې خبـره يـوازې د درک ده. که انسان سم ذهن ولـري او اراده يـې بيـداره وي، نو ستونزمن حالات تر هغـه ډېـر څـه لـه ځـان سره راوړي، چـې پـه اسـانيو او راحتونـو کـې پيـدا کېـږي. ستونزې تاسې له اعلی انساني ارزښتونو سره اشنا کوي.

ستاسې دننه سوز او درد راوپښـوي او ستاسـې خبرو تـه افاقيت وربښي، له سـتونزو نـه د وتلـو نـوې ولـولې پيـدا کـوي او بلاخـره د هغـو سـترو انسـانانو ډلـې تـه مـو هسکوي، چې د تاريخ لوستونکو په ځای تاريخ ساز بلل کېږي.

---

پورته چې کومه پېښه ليکل شـوې ده، هغـه د جامعـة الرشاد اعظم گړ پېښه ده. او چا چې پورتنی وينـا وکـړه، هغه مولانا مجيب الله ندوي و. اوس د خدای په فضـل سره دا اداره د «خېمـو لـه دور نـه» د «ودانـۍ» دور تـه رسېدلې ده. او د تعليم په ډگر کې ملت تـه د نويـو لارو په ښودلو کې هلې ځلې کوي. هر ځل چې انسان نـوی کار پيلوي، نو د تذبذب مرحله حتما په کـې راځـي، خـو که انسان ځان کلک کړي، نو د استحکام مرحلې تـه د رسېدو مخه يې هېڅ څوک نه شي نيولی.

# چې د ژوند لوری د اخرت په لوري شي

د ذات السلاسل غزوې پېښه ده. نبي صلی الله عليـه وسلم، عمرو بن العاص د لښکر په مشرۍ وگـماره. خـو ټول لښکر په يوه وخت کې اماده نه و.

پيغمبر عليه السلام له عمرو بن العاص سره يـوه ډلـه مخکې روانه کړه. بيا د دوه سوه مهاجرينو او انصارو يوه بله ډله اماده شوه او هغـه د ابـو عبيـده بـن الجـراح پـه سرداری کې روانه شوه. نبي کـريم ص ابـو عبيـده تـه د بيرغ د سپارلو پر مهال يو څو نصيحتونه وکړل، چې يـو يې دا و: له خپل ملگري (عمـرو بـن العـاص رض) سره

چې مخ شې، نو دواړه په گډه کـار وکـړئ، اخـتلاف مـه سره کوئ. (**اذا قدمت علی صاحبک فتطاوعا و تختلفا**)

د ابو عبيده ډلگـۍ چـې لـه مـدينې روانـه شـوه او لـه عمرو بن العاص سره يو ځـای شـوه، نـو د لمانځـه وخـت شـوی و. صـفونه ودرېـدل، ابـو عبيـده غوښـتل، چـې د لمانځه امامت وکړي. خـو عمـرو بـن العـاص رض ورسره اختلاف وکړ. ده وويل، چې ته يـې زمـا د مرسـتې لپـاره رالېږلی يـې. دا صحيح نـه ده، چـې تاسـې زمـا امامت وکړئ، حال دا چې اصل کې امير زه يم. د ابو عبيـده د ډلگۍ خلکو، چې ابوبکر رض او عمر رض هم په کې و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل، چې عمرو بن العاص د خپلې ډلګۍ مشر دی او ابو عبیده د خپلې ډلګۍ. عمرو بن العاص دغه وېش ورسره ونه مانه، او ويې ویل «تاسې زما مرستې ته رااستول شوي یاستئ، نو مشر همدا زه یم. (**انما انتم امددت بکم فانا لقائد**)

له دې خبرو وروسته ابو عبیده بن الجراح خپل حق بېرته واخیسته او ويې ویل «رسول الله ص ماته نصیحت کړی و، چې کله له عمرو بن العاص سره مخ شم، نو جګړه ورسره ونه کړم، او په ګډه ورسره کار وکړم. (و **اناث والله ان عصیتنی لاطعتک**) په خدای قسم که ته زما خبره ونه منې، زه به بیا هم ستا اطاعت کوم.

# لویه مسئله!

یو سړی له خپلو بچیانو سره باغ وحش ته لاړ. په ژوبڼ کې ډېر زیات چینجیان او خوګیان وو. موږکان او مېږیان وو.

خو د دې ټولو په منځ کې یو خطرناك لېوه ولاړ و. د دې صحنې په لیدو به د هغه سړي له خولې ناڅاپه څه چیغې وتلې وي؟ سړي به وارخطا چیغې کړې وي:

بچیانو! لېوه دی! خپل ځان له لېوه وژغورئ. د لېوه خطرناکې څېرې ته په کتو به له هغه نه نور ټول شیان هېر شي.

او داسې به ورته ښکاري، لکه ټول ژوبڼ چې په لېوه بدل شوی وي.

ده سره به له دې پرته بله هېڅ ستونزه نه وي، چې له لېوه نه د ځان ژغورنې چاره وکړي.

موږ هم په یوه داسې دنیا کې یو، چې ډېر زیات مسایل په کې دي. همداسې لکه په ژوبڼ کې چینجیان او مېږیان. خو د همدې په منځ کې یوه تر ټولو لویه مسئله هم ولاړه ده، هغه د اخرت مسئله ده.

که موږ په دې خبره پوه شو، نو په ټول کاینات کې به مو له اخرت پرته نور هېڅ شی هم ترسترګو نه شي. او بیا به یوازې د اخرت لپاره چیغې وهو، نه د چینجیانو او مېږیانو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا و د عربو مشرکينو کردار

۱- د نبي کريم صلی الله عليه وسلم بعثت په (٦١٠) کې وشو، په دې وخت کې د ايران ساساني سلطنت او د روم بيزانسي سلطنت ترمنځ جګړې رواني وې. په دې دوه اړخيزه جګړه شاوخوا شل کاله تېر شول. په ابتدا کې ايرانيان پرې برلاسي شول. تر ٦١٥ز پورې د رومي سلطنت شاوخوا ټولې شمالي سيمې اردن، شام، فلسطين، عراق، مصر- د ايرانيانو لاس ته ورغلې.

دا هماغه وخت و، چې په مکه کې د اسلام او غيراسلام ترمنځ کشمکش روان و. دې کشمکش دومره شدت موندلی و، چې په ٦١٥ز کې د مکې لوی شمېر مسلمانان دې ته اړ شول، چې خپل وطن پرېږدي او ګاونډي هېواد حبشې ته پناه يوسي. په داسې حالاتو کې د اهل کتابو روميانو په خلاف د بت پرستو ايرانيانو فتحه د مکې د اوسېدونکو لپاره د خبرو اترو دلچسپه موضوع وه. مشرکينو مسلمانانو ته وويل، چې هغسې چې په ګاونډيو هېوادونو کې بت پرسته خلک د اسماني کتاب په حاملينو برلاسي شول، همداسې به موږ هم په تاسې برلاسي شو. په همدې وخت کې د قرآن کريم دېرشمه سوره نازله شوه او اعلان يې وکړ، چې په څو کالونو کې به بېرته يو انقلاب راشي او رومي سلطنت به په ايرانيانو غالب شي.

د روم سورې دغه آيتونه د مکې اوسېدونکو لپاره د ملنډو نوې موضوع شول. ابی بن خلف حضرت ابوبکر صديق رض ته وويل، چې داسې هېڅ کله نه شي کېدلی. او که تاسې يقين لرئ، چې همداسې به وشي، نو راځه له ماسره شرط وتړه. ده له خپل لوري شرط کېښوده، چې که روميان په درې کلونو کې غالبه شوو، نو زه به لس اوښان درکړم. او که د دې په خلاف کار وشوو، نو ته به ماته لس اوښان راکوې. نبي کريم صلی الله عليه وسلم چې خبر شو، نو ابوبکر صديق رض ته يې وويل، چې په قرآن کريم کې د **بضع سنين** لفظ راغلی دی او په عربي کې د بضع اطلاق له لسون نه پر کمو کېږي. د همدې لپاره تر لسو کم شرط ورسره کېږده او د اوښانو شمېر زيات کړه او سل يې کړه. حضرت ابوبکر بېرته ابی بن خلف ته راغی او دا خبره يې ورته وکړه. هغه ورسره ومنله چې په لسو کلونو کې چې د هر چا خبره ناسمه ثابته شوه، هغه به بل لوري ته سل اوښان ورکوي.

د قرآن وړاندوينه ټکي په ټکي سمه ثابته شوه. نهه کاله وروسته د روم قيصر- په ٦٢۴ز کې ايرانيانو ته د نينوا (عراق) په سيمه کې پرېکنده ماتې ورکړه او خپلې له لاس وتلې سيمې يې له ايرانيانو بېرته ونيولې.

په دې موده کې د مکې کشمکش دې حد ته رسېدلی و، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم او ملګرو يې له مکې نه هجرت کړی و. او د دواړو خواوو ترمنځ کشمکش دومره شدت موندلی و، چې په ٦٢۴ز کې د بدر جګړه پېښه شوه. په دې جګړه کې د مسلمانانو فتحه په برخه شوه، او د مکې د مشرکينو ډېر لوی، لوی سرداران په کې ووژل شوو.

په دې سخته هيجاني فضا کې د روميانو د بريا خبر راغی. د بدر ماتې د مکې خلکو دښمني د جنون تر حده

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسولي وه. خو حضرت ابوبکر رض چې کله ابی بن خلف ته پیغام ولېږه، چې زموږ خبره رښتیا شوه، نو له شرط سره سم ماته سل اوښان راکړه، نو په مکه کې يې يوه سړي هم مخالفت ونه کړ او ابی بن خلف له هر ډول بحث او جنجال پرته پوره سل اوښان ابوبکر صديق ته واستول. دغه اوښان چې کله مدينې ته ورسېدل، نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر ته امر وکړ، چې ټول صدقه کړه.

له دومره کلکې دښمنۍ سره، سره د عربو مشرکينو په گمان کې هم نه و، چې له شرط سره سم خپل دښمن ته د سلو اوښانو د نه ورکولو لپاره له ځانه پلمې ولټوي. يا يې په شمېر کې د کمښت هڅه وکړي. دوی يوازې په يوه خبره پوهېدل: کومه خبره چې شوې ده، په هغه بايد ودرېږي. هغه که له خپل دوست سره وي يا دښمن سره.

۲- د حديبيې له سولې وروسته په ٦ ذي الحجه کې نبي کريم صلی الله علیه وسلم اراده وکړه، چې د امپراتورانو او پاچاهانو په نوم دعوتي ليکونه واستوي. په دې برخه کې شاوخوا يوه مياشت په اړينو تياريو کې ولگېده. او د ۷ هجري کال په محرم کې پيغمبر علیه السلام د اتو پاچاهانو په نوم خپل سفيران له خطونو سره واستول.

په هغو کې يو ليک د روم د قيصر- هرقل په نوم و، چې سلطنت يې د هغې زمانې له شام نه تر قسطنطنيې پورې غځېدلی و. د ده ليک دحيه کلبي ځان سره وړی و. هرقل په هغه زمانه کې د ايران په مقابله کې فتحه ترلاسه کړې وه او د خپل نذر مطابق په پښو فلسطين ته راغلی و. کله چې هرقل ته د پيغمبر علیه السلام ليک ورسېده، نو امر يې وکړ، چې که دې سيمې ته د عربو کوم وگړی راغلی وي، نو ماته يې راولئ. د تصادف له مخې ابوسفيان (چې تر دې دمه يې ايمان نه و راوړی او له ابو جهل وروسته د مکې د مشرکينو تر ټولو لوی مشر و) له خپلو ځينو ملگرو سره د تجارت په موخه شام ته راغلی و. له ټولو وروسته ابو سفيان راوستل شو. قيصر وويل، ستاسې په خوا کې چې څوک د نبوت دعوه کړې ده، زه به د هغه په اړه څو سوالونه وکړم، ته د خپلې پوهې له مخې ځوابونه راکړه.

په دې شېبه کې چې د هرقل او ابوسفيان ترمنځ کومې خبرې اترې وشوې، هغه د سيرت په ټولو کتابونو کې شته دي. په دې وخت کې محمد صلی الله علیه وسلم د ابوسفيان په نزد تر ټولو لوی دښمن و. او د پيغمبر علیه السلام د له منځه وړلو پلانونه يې جوړ کړي وو. خو په ټوله مکالمه کې ابوسفيان يوه هم غلطه خبره ونه کړه: څو سوالونه او ځوابونه يې دا و:

**هرقل: د محمد نسب څرنگه دی؟**

**ابوسفيان: درونددراوند او عظيم.**

**هرقل: په دې سړي د دروغ ويلو تور پورې شوی دی؟**

**ابوسفيان: هېڅ کله نه.**

**هرقل: د منونکو شمېر يې په زياتېدو دی يا په کمېدو؟**

**ابوسفيان: په زياتېدو دی.**

**هرقل: د څه شي ښوونه درته کوي؟**

**ابوسفيان: د توحيد او ښو اخلاقو ښوونه کوي.**

**هرقل: آيا ژمنې ماتوي؟**

**ابوسفيان: نه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابوسفیان ویل، چې ما د یوې پوښتنې په ځواب کې هم غلطه خبره نه ده کړې او نه مې پیغور ویلی دی. ماسره اندېښنه وه، چې خپل ملگري به مې دروغجن وگڼي. یوازې د وروستۍ پوښتنې په ځواب کې یې دومره ورزیات کړل، چې «سږ کال زموږ او د هغو ترمنځ یو تړون (حدیبیه) شوی دی، وگورو، چې هغوی څه کوي.»

د دې سوال او ځواب په وخت کې ابوسفیان او ملگري یې مشرکان وو او د ټولو له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره سخته دښمني وه. خو د هغوی زړونو دا نه منله، چې د پیغمبر علیه السلام په باره کې غلط بیاني وکړي یا د پیغمبر علیه السلام د ملعون کولو هڅه وکړي.

۳- د نبوت په لسم کال د پیغمبر علیه السلام تره ابو طالب وفات شو. اوس د کورني دود له مخې عبدالعزا (ابولهب) د بني هاشمو سردار وټاکل شو، چې په دې وخت کې د کورنۍ تر ټولو مشر سړی و. ابولهب په دې کورنۍ کې د پیغمبر علیه السلام لوی‌ترین دښمن و. د شعب ابی طالب د پرېکون په زمانه کې د بني هاشم ټولې کورنۍ د پیغمبر ع ملتیا کړې وه، یوازې ابو لهب و، چې له پیغمبر علیه السلام نه بېل و. اوس چې کله ابولهب ته د کورنۍ د سرداري مقام په لاس ورغی، نو پیغمبر علیه السلام له کورنۍ نه وایستل شو.

**د عربو مشرکینو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د رسالت ډېر کلک مخالفت وکړ، جنگونه یې وکړل. له خپلې خاورې نه یې وایستلو. خو هېڅ کله یې د هغه په خلاف سپک حرکت ونه کړ. پیغمبر علیه السلام د خپلو مخالفینو له لورې د سپکو او ناوړه کارونو تجربه یوازې له هجرت وروسته ولیدله، چې کله یې له یهودو سره پېښه راغله، چې د الهي کتاب خاوندان و، چې ځانونه یې د نبیانو وارثان گڼل، چې گواکې د خپل وخت «مسلمانان» وو!**

له کورنۍ نه ویستل کېدل په لرغوني عرب کې بدترینه سزا وه. له دې وروسته به بنده بالکل تنها شو. او په قبایلي نظام کې له کورنۍ پناه پرته بله هېڅ پناه نه وه، چې د هغه په سیوري کې دې بنده په خوندي ډول خپل ژوند تېر کړی وای. نو له دې وروسته په مکه کې د خلکو مخالفتونه ډېر زیات شوو. تر دې مخکې به پیغمبر علیه السلام یوازې د ژبې له پیغور او بد رد سره مبارزه کوله. اوس د بدني اذیت مشکلات هم پیل شوو. دې حالاتو ته په کتو پیغمبر علیه السلام اراده وکړه، چې د عربو بل لوی ښار طایف ته ولاړ شي او هلته له خلکو نه د پناه غوښتنه وکړي.

پیغمبر علیه السلام له مکې نه په پښو روان شو، طایف ته ورسېده، چې د مکې په جنوب ختیځ کې په ۶۵ میله واټن کې پروت و. خو د تمې خلاف د هغه ځای خلکو ډېر ناوړه برخورد ورسره وکړ. نه یوازې دا چې پیغمبر علیه السلام ته یې پناه ور نه کړه، بلکې د کاڼو باران یې پرې جوړ کړ او له ښار نه یې وتلو ته مجبور کړ. تر دې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم هلته خلکو ته وویل، چې خیر دی، دا خبرې د مکې تر خلکو مه رسوئ. یوې خواته په خپل وطن مکه کې ځمکه وراندې تنگه شوه، او بل لوري ته د طایف د خلکو وحشیانه برخورد، دې پېښو په نبي کریم ص ډېر زیات اغېز وکړ. له طایف نه د ستنېدو په وخت کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغمبر علیه السلام خپل رب ته لاسونه لپه کړل، نو له خولې نه یې دا توري ووتل:

**«اللهم الیک اشکو ضعف قوتی وقلة حیاتی و وهو انی علی الناس یاارحم الراحمین.»**

ژباړه: خدایه! زه تاته د خپل زور د کموالي او د خپلې بې وسۍ او د خلکو په سترګو کې د سپکوالي ګیله درووړم.

له طایف نه تر ببرته راستنېدو وروسته بل ځای نه و، چې پیغمبر علیه السلام لاړ شي. په دې چې له مکې نه شړل شوي شخص ته د پناه ورکولو کار د طایف په څېر د لوی ښار کوم سردار کولی شوی. له ناچارۍ نه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ببرته د مکې مخه ونیوله او له ښار نه دباندې یې په غار حرا کې له خپل خادم زید بن حارث رض سره واړول.

اوس پوښتنه دا وه، چې څه وکړي. له ځو ورځو غور او فکر وروسته نبي کریم ص د مکې یوه سردار مطعم بن عدي ته پیغام واستوه، چې زه په غار حرا کې مېشت یم. ته مې په خپله پناه کې واخله، تر څو په مکه کې ژوند وکولی شم. مطعم کافر و او له بدر نه مخکې د کفر په حالت کې مړ شو. نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دې وخت کې د ده لپاره د قامي دښمن حیثیت درلوده. خو کله چې پیغمبر علیه السلام د حفاظت غوښتنه وکړه، نو د ده لپاره ناممکنه وه، چې له دې انکار وکړي، چې پیغمبر علیه السلام ته پناه ورکړي. د ده شپږ ځوان زامن وو. ده ټولو زامنو ته امر وکړ، چې تاسې له تورو سره لاړ شئ او محمد په خپل حفاظت کې مکې ته راولئ. نو دغه هلکان غار حرا ته ورغلل او د تورو په سیوري کې یې نبي کریم ص ببرته مکې ته راوست. مکې ته چې کله نبي کریم ص راغی، نو لومړی یې د کعبې طواف وکړ. پیغمبر علیه السلام په طواف کې لګیا و، نو مطعم بن عدي په دروازه کې ودرېده او اعلان یې وکړ: «ما محمد ته پناه ورکړې ده، خبر اوسئ، چې څوک ضرر ورته ونه رسوي.»

مطعم بن عدي یو کافر او مشرک سړی و. بله دا چې د پیغمبر علیه السلام له دښمنې ډلې سره یې اړیکه وه. خو کله چې پیغمبر علیه السلام پناه ترې وغوښته، نو د ده لپاره ناشونې شوه، چې پیغمبر ته له پناه ورکولو انکار وکړي.

دا و کردار د هغو خلکو چې مشرک او کافر بلل کېږي.

**انسان چې په څومره لوړه ودرېږي، هماغومره لرې منظرې به ویني. په همدې ډول قرآن‌پوهنه هم درجې لري. په یوه انسان باندې د الهي کتاب هماغه معاني روښانه کېږي، چې خپل ځان یې ورته عیار کړی وي. له حضرت ابن مسعود رض نه روایت دی، چې نبي کریم صلی اللّه علیه وسلم وفرمایل:**

انزل القرآن علی سبعة احرف، لکل آیة منها ظهر و بطن ولکل حد مُطّلع. (مشکواة، کتاب العلم)

**ژباړه: قرآن په اوو حروفو نازل شوی دی. د دې کتاب هر آیت یو ظاهر لري او یو باطن، او د هر حد د لیدو لپاره یې یو مقام دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# او د راتلونکي هلې ځلې يې پيل کړې

شپه وه، باران په خپل عروج کې و، د هوا تېزي او تونديې څپې وې، له يخني نه يې بدن کرخت شوی و. د خېمې له چت نه د باران څاڅکي د ګلانو غوندې وربانديې وربېدل. خو دی له دې هر څه ناخبره په ځمکه پروت او د ماضي په يادونو کې ورک و. د تېرو وختونو هره خاطره يې د سترګو په مخکې يوه، يوه تېرېدله. خپل پلار يې ليده، چې د نمونيا غونديې خطرناکې ناروغي په خپله غېږه کې ورسره پناه کړ. خپله مور يې ليدله، چې په همديې خېمه کې يې په ځمکه پښې وهلې، وهلې او ساه يې ورکړه. خپله خور يې ليده، چې په همديې خېمه کې له يخني نه کرخته شوه او مړه شوه. په سترګو کې يې د اوښکو سېلاب راوخوټېده، خو دې اوښکو هېڅ ارزښت نه درلوده.

ناڅاپه په بل اړخ واوښت او ماضي يې وشړله او د فکر اس يې د راتلونکي په لور وځغلاوه. «آيا زما انجام به هم همداسې وي، لکه زما د بدمرغه مور او پلار چې په برخه شو؟ آيا دغه ظالم مرګ به ما هم په خپله غېږه کې ورسره ويده کړي؟ نه نه، زه له مرګ سره لاس او ګرېوان کېږم او د خپلې مور، پلار او خور غچ به ترې اخلم.»

اوس يې ذهن يوه بله غوپه ووهله او د زدکړو سمندر ته ورکوز شو او له ځانه يې پوښتنه وکړه «جعفره! ترکله به همداسې جاهل پاتې يې او د ژوند پاتې ورځې به لنډوې؟ ښه خو دا ده، چې مکتب ته لاړ شې.» زړه يې ورو ورته ووېل: «خو زه خو غريب هلک يم، زه څرنګه مکتب ته تللی شم؟» ذهن يې سمدستي ځواب ورکړ «د خپلې سيما په پيسو ولې ټوکرۍ کې سودا نه پلورې. تر څو په ګټه يې خپلې زدکړې وکړې او اينده کې ډاکټر شې او د خلکو خدمت وکړې، تر څو هېڅ څوک ستا د مور، پلار او خور غوندې د ظالم مرګ ښکار نه شي؟»

اوس يې د راتلونکي لپاره هلې ځلې پيل کړې، داسې کوشش چې يو، دوه، درې، څلور، پنځه، شپږ، اوه، اته، نهه، لس، يوولس، دوولس، ديارلس، څوارلس، پنځلس، پوره پنځلسو کلونو کې پای ته رسېده. دا پنځلس کلن پلان و. پنځلس کاله وروسته هغه ورځ راتلونکې وه، چې دی به په رسمي توګه ډاکټر وي او د خلکو خدمت به وکړي او له دنيا نه به د ځان لپاره د ژوند حق واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده به له مابنام نه د شپې تر ناوخته پورې په ټوکرۍ کې سودا خرخوله او د ورځې به یې مکتب لوسته. پـه دې ډول یې لیسه بشپړه کړه. د لیسې په دوره کې په لومړۍ درجه فارغ شو. بیا یې یو بورس پیدا کړ. ټوکرۍ یې پرېښوده او لا ډېر وخت یې خپلو زدکړو ته ځانګړی کړ. د خپلې خواري له برکته به هر کال په لومړي مقام کې و، تر دې چې د ډاکټري ازموینه یې هم په ښو نمره تېره کړه.

دی اوس ډاکټر و، د ښار تر ټولو بریالی ډاکټر. ده به کله کله ځان سره فکرونـه کـول «زه څـه شي ډاکټـر کـړم؟» یوازې یوه شي، زما ستونزمنو حالاتو له ما ډاکټر جوړ کړ. په ما باندې چې کوم سخت حالات راغلل، کـه هغـه نـه وای راغلي، نو ښایي په ما کې به هغه قوي محرک او د کار ځواک نه وای پیدا شوی، چې زه یې دومـره خـواري او هڅو ته تشویق کړم او بلاخره یې ډاکټر رانه جوړ کړ. ده په خپله دروازه دړه وهلې وه او پرې لیکلي یې و «**له ستونزو مه وېرېږئ، ستونزې مو د پرمختګ زینې دي.**»

---

# د رسول الله اخلاق

پـه طبقات ابـن سـعد (لـومړی ټـوک، ۱۶۳مـخ) کې د زهري له خولې ویل شوي دي، چې یوه یهودي و ویل، چې په تورات کې د اخري پیغمبر چې کومې نښې بیان شوې دي، هغه مې ټـولې پـه پیغمبـر علیـه السـلام کـې ولیدې. یوازې یـوه ځانګړنـه پـاتې وه او هغـه زغـم او تېرېدنــه وه. نــو د دې ازمایښــت لپــاره مــې حضــرت پیغمبر علیه السلام ته ۳۰ دیناره پـور ورکـړل. او بیـا مې ځان غلی ونیوه، تر دې چې ټاکلې نېټې تـه یـې یـوه ورځ پاتې شوه، نو زه پیغمبر علیـه السـلام تـه ورغلـم او پـه ډېـره سـختي مـې د خپلـو پیسـو غوښـتنه تـرې وکـړه، ورتـه ومـې ویـل، چـې زمـا حـق راکـړه، او زه پـوهېږم، چـې د عبـدالمطلب کـورنۍ همـېش پـه خپلـه خبره نه درېږي.

پـه دې وخـت کې عمـر فـاروق د نبـي کـریم ص سـره پـه خـواکې ناست و. د یهودي له خولې یې چې دا جملـه واورېده، نو غوسه شو او ویې ویل: کـه د رسـول الله خاطر نه وای، نو ستا سر به مـې درنـه وهلـی و. د دې خبـرې پـه اورېـدو نبـي کـریم صـلی الله علیـه وسـلم وفرمایل:

«**غفر الله لک یا ابا حفص! نحن کنا الی غیر هذا منک احوج، تامرنی بحسن القضاء و تامره بحسن الطلب.**»

اې ابو حفص! خدای دې ښښنه درتـه وکـړي، زمـوږ لـه تا نه تر دې ډېر غوره یوه بل برخـورد تـه اړتیـا وه، تابـه ماته د غوره پور پرې کولو ویلي و او دې (یهودي) تـه به دې په بهتره طریقه د پور غوښتلو نصـحیت کـړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا پلـــمه نـــاســمه ده

«مسلمانانو په خپله له اسلام نه مخ اړولی دی، نو هغه په کومه خوله نورو خلکو ته د اسلام خبره کولی شي؟» دا نیوکه په دین او شریعت پورې هېڅ تعلق نه نیسي- تر کومه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خبره ده، نو پیغمبر علیه السلام خپل رسالت په عربو کې پیل کړ، نو یوې خواته پیغمبر علیه السلام و، او بل لوري ته په شرک او کفر ککړ خلک. خو نور انبیاء د «بې لارې مسلمانانو» په منځ کې مبعوث شوي وو. په دې برخه کې چې هغوی کومه طریقه خپله کړه، هغه زموږ لپاره هماغسې اسوه ده، څرنګه چې د نبي صلی الله علیه وسلم عمل زموږ لپاره اسوه ده، ځکه چې په قرآن کریم کې په صراحت سره راغلي دي «**فبهداهم اقتده**» یانې د هغوی لاره ونیسئ.

دلته موږ د حضرت موسی علیه السلام بېلګه راوړو. هغه په مصر کې د بني اسرائیلو په منځ کې مبعوث شو. له محمدي امت دمخه بني اسرائیل هماغسې «مسلمانان» وو، څرنګه چې اوس په اصطلاح کې د نبي کریم ص امت ته مسلمانان ویل کېږي. د دې په خوا کې بني اسرائیل په هغه زمانه کې د دعوت په هغه مقام کې و، چې د پیغمبر علیه السلام له بعثت وروسته اسلامي امت پرې ووياړل شو. د کومې ځانګړني له امله چې اسلامي امت ته «**خیر امة**» ویل شوي، د همدې ځانګړني له مخې د بني اسرائیلو په حق کې هم د «**فضلتکم علی العالمین**» (بقره-۴۷) الفاظ راغلي دي. دا ثابته ده، چې د حضرت موسی د بعثت په وخت کې بني اسرائیلو هغه ټولې نیمګړتیاوې درلودې، چې نن ورځ په مسلمانانو کې لیدل کېږي. خو د دې باوجود د نامسلمانانو په وړاندې د حق د تبلیغ کار نه دی ځنډول شوی. الله تعالی یوه لوري ته دا امر کړی دی، چې د بني اسرائیلو د دیني او اخلاقي اصلاح ماموریت باید پرمخ یووړل شي (یونس - ۸۷) او بل لوري ته یې دا امر هم کړی دی، چې هغوی د مصر قبطي قوم ته د خدای پیغام ورسوي «**اذهب الی فرعون انه طغی**» یانې ته فرعون ته ورشه هغه سرغړاند شوی.

دا نه دي ویل شوي، چې دا چې تاسې پخپله له اسلام نه لرې یاستئ، نو ځکه دمګړی تاسې په خپله دیني اصلاح کې لګیا اوسئ، بلکې د داخلي اصلاح په خوا کې نامسلمان قوم ته د تبلیغ کولو امر هم ورته شوی دی.

د «لومړی مسلمانان اماده کړئ» په ذهنیت زموږ خواته بې شمېره کاروانه روان دي، تر دې چې ځینې داسې کاروانه هم شته، چې لومړنی بنسټګر یې په ۱۸۹۸ کې وفات شوی و. له هغه وروسته دا لړی هېڅ دربدلي نه ده، بلکې بې د یوې ورځې له ځنډه پرلپسې تر ننه پورې راروانه ده. په دې ډول د مسلمانانو د اماده کولو یوازې یوه ډله هغه ده، چې په فعالیتونو یې یوه پېړی تېره شوې ده. خو نن ورځ چې د دې ډلې د ملاتړو له قوله دغه تحریک نړیوال ستېج ته رسېدلی دی، په وېشلي هندوستان کې یو داسې کلی یا کور هم نه دی پیدا شوی، چې د هغه په اړه دې وویل شي، چې هغه د پوړتني معیار له مخې د دې جوګه شوی دی، چې نورو ته د اسلام دعوت ورکړي.

په هندوستان کې هره ورځ له سلو زرو نه ډېر کسان مري. او د ټولې دنیا له پلوه چې ورته وګورو، نو هره ورځ د مړګونو شمېر شاوخوا یومیلیون ته رسېږي. نو څومره عجیبه خبره ده، چې هره ورځ یو میلیون وګړي له حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دین نه په ناخبرۍ کې مري او موږ ټوله پېرۍ يوازې په دې پلمه تېره کړه، چې لا تر اوسه موږ مسلمانان اماده کوو. او دا ځواب د هغه نبي د امتیانو وي، چې ويل به يې، خلک د پتنګانو غوندې په اور کې غورځي او زه يې په خپل ټول توان سره له اور نه د راويستلو کوششونه کوم.

په تلاوت کې د يو څو مخارج غلط وي يا يې سورتونه زده نه وي، نو هر سړی پوهېږي، چې په دې سره لمونځ نه ساقط کېږي. تر دې چې که کوم غلط عادت هم ولري، بيا به هم مفتي دا فتوا ور نه کړي، چې ستا عادت دې سم شي، بيا لمونځ وکړه. خو د شرعي مسؤليتونو همدا اصل موږ هغه وخت هېروو، چې کله خبره د نورو قومونو په وړاندې د دعوتي فريضې د سرته رسولو راشي. د دې علت بل څه کېدلی شي، چې موږ د لمانځه په ارزښت پوهېږو. خو د شهادتِ حق او الی الله دعوت په اهميت تر دې دمه خبر نه يو. د «اولين پرسش نماز بود» سبق مو زده دی. خو موږ دا حقيقت هېر کړی دی، چې د خدای د ناخبره بندګانو د خدای له دين نه خبرول، په محمدي امت همداسې فرض دی، څرنګه چې په يوه مسلمان هره ورځ پنځه وخت لمونځ فرض دی.

## محمود پاشا بارودي (۱۳۲۲ – ۱۲۵۵هـ)

دی په قاهره دنيا کې ته راغی. پلار يې د سوډان د دنقله او بربر ښارونو ښاروال و. د بارودي له دوو شيانو سره ډېره علاقه وه، سياست او شاعري. د ده خپل ديوان په دوو ټوکونو کې له مصر نه چاپ شوی دی. په دې سربېره د «مختارات البارودي» په نوم يو کتاب هم لري. دا کتاب څلور برخې لري او د عباسي دور د دېرشو شاعرانو کلام په کې انتخاب شوی دی.

په مصر کې بارودي په بېلا بېلو دولتي دندو کې کار کړی او د بريد جنران په حيث يې فرانسې او انګلستان ته د سفرونو فرصت هم موندلی و. په مصر کې چې کله د انګرېزانو په خلاف پاڅون وشو، نو په دې کې د ده نوم هم و. په خلکو کې عمومي غوغا دا وه، چې بارودي د دې انقلابي پاڅون رهبر دی. خو دا بغاوت د نيل په وادي باندې د انګرېزانو له ولکې وروسته پای ته ورسېده.

خو د حکومت باغيانو چې اړ و دوړ پيل کړ، نو بارودي هم په کې ونيول شو. دی يې له وطن نه تبعيد کړ او سرانديپ ټاپو ته يې واستاوه.

هلته يې له اوولس کلونو نه ډېره موده تېره کړه. د خديو عباس ثاني په سفارش په ۱۳۲۷ هـ کې وبښل شو. او بېرته مصر ته راغی. له دې وروسته يې يوازې پنځه کاله ژوند وکړ. او په اخري ورځو کې يې د سترګو بينايي هم په تېزدو شوې وه.

ويل کېږي، چې بارودي په عربي شاعرۍ کې د امرؤالقيس او بشار درجې ته رسېدلی و. ده په اوسني دور کې د عربي شاعرۍ د احياء کار وکړ.

ماده چې «فنا» شي، نو په انرژۍ بدله شي، چې د مادې ډېره پراخه او ځواکمنه بڼه ده. همدا په دې کايناتو کې د خدای عام قانون دی. دلته په هره محرومۍ کې د يوې نوې موندنې امکان نغښتی دی.د الله تعالی دغه ځانګړې صفت چې په مادي دنيا کې يې ظهور شوی دی، تر دې په لويه کچه يې د مؤمنانو لپاره ژمنه شوې ده. د مؤمنانو لپاره خدای تعالی په ناموافقو حالاتو کې هم موافق اړخ راپيدا کوي. په دې شرط چې دوی په رښتيا د خدای بندګان ګرزېدلي وي. د هغوی پلان او فکر سوچه د خدايي ماموريت لپاره وي، نه د تظاهر لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه الفاظ چې فضا کې ورک شول

مولانا محمد علي پر نومبر ۱۹۳۰ کې د لندن ګردي مېز کانفرانس کې ګډون وکړ. دلته چې مولانا کومه توپان پاروونکې وينا وکړه، د هغه څو ټکي دا دي:

«نن ورځ زه يوازې په يوه هدف دلته راغلی يم، هغه دا دی، چې په داسې حالت کې ببرته خپل هېواد ته ستون شم، چې د خپلواکی توغ مې په لاس کې وي. زه به يوه غلام هېواد ته ستون نه شم. که تاسې ماته د هند آزادي رانه کړئ، نو بيا به همدلته راته د قبر ځای راکوئ....

مـوږ ۳۲ کـروړه نفـوس يـو. دوی چـې د زرګونـو پـه شمېر کې د لوږې او وبا له مرګونو سره اشنا دي، نـو هغوی يقيناً د بريتانوي مرمی پـر وړانـدې هـم خپـل ژوند بايللی شي.»

نن ورځ چې دغه الفـاظ ولټـول شي، نـو د تـاريخ لـه الماری پرته به يې بل هېڅ چېرته ونه مومئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مکه کې چې په مسلمانانو حالت ستونزمن شول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته وویل چې «حبشې ته لاړ شئ. د هغه ځای پاچا نجاشي عیسوی دی او نېک سړی دی. هغه به درسره ښه چلند وکړي.» نو په ٦١٥ز کې پنځلس تنه جدې ته لاړل او له هغه ځایه په کښتیو کې حبشې ته روان شول. په دوهم ځل په ٦١٧ز کې سل تنه مسلمانانو حبشې ته هجرت وکړ.

په ظاهر کې دا یوه ناوړه پېښه وه. خو په همدې پېښه کې الله تعالی د خیر یوه لاره راوایستله. د مکې مسلمانانو حبشې ته رسېدل د دې سبب شو، چې په حبشه کې اسلام د بحث موضوع وګرځي او د حضرت پیغمبر علیه السلام د دعوت او بعثت خبرونه په حبشه کې خپاره شي. د قریشو یوه مخالفه ډله چې حبشې ته ورسېده نو هلته حضرت جعفر د دې فرصت ومونده، چې د پاچا په دربار کې د اسلام په دعوت اوږده وینا وکړي. د دې پېښو په پایله کې له حبشې د شلو تنو یو وفد مکې ته راغی، تر څو په اصلي خبره ځان پوه کړي.

دغه خلک چې مکې ته راغلل، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد حرام کې ناست و. دوی له پیغمبر علیه السلام سره ولیدل او راز، راز پوښتنې یې وکړې. او ویې پوښتل، چې تاسې څه تعلیمات راوړي دي. رسول الله ص ورته وفرمایل، چې خدای پر ما خپل کلام نازل کړی دی او د قرآن کریم ځینې آیتونه یې ورته تلاوت کړل. د هغوی له سترګو اوښکې روانې شوې. هغوی ومنله، چې بې شکه دا د خدای کلام دی او په همدې وخت یې اسلام ته غاړه کېښوده.

کله چې دغه پېښه روانه وه، د قریشو ډېر خلک هلته راټول وو او ټوله ماجرا یې په خپلو سترګو لیدله. هغوی حیرانه هم وو او په قهر هم وو چې له کوم دین نه چې دوی مخ اړولی دی، له بهر نه نور خلک راروان دي او هماغه دین ته غاړه ږدي. د حبشې دغه خلک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا نه خواره شول، نو ابوجهل له خپلو ځینو ملګرو سره په لاره کې ورسره ولیدل. ابوجهل لومړی بد و رد ورته وویل، او بیا یې زیاته کړه چې «زموږ په اند له تاسې احمقه قافله به کله دلته نه وي راغلې. ستاسې هم‌دینه خلکو تاسې دلته د دې لپاره رالېږلي وئ، چې حالات وڅېړئ او بېرته لاړ شئ او خپل ملګري خبر کړئ. خو تاسې لا ورسره لیدلي نه دي او خپل دین مو پرېښوده.»

هغسې چې په قرآن کریم کې ویل شوي دي چې دوی د بنـي اسرائیلو علماء وو (شعراء- ۱۹۷) هغوی له ابوجهل او نورو سره هېڅ بحث ونه کړ. بلکې یوازې دومره ځواب یې ورکړ «سلام دې وي وروڼو، موږ له تاسې سره جهالت نه شو کولی. موږ خپلې لارې ته پرېږدئ او تاسې په خپله لاره روان اوسئ. موږ خپل ځان په لوی لاس له ښېګڼې نه شو محرومولی.» (ابن هشام)

د همدې خلکو په اړه په قرآن کریم کې راغلي دي:

**«هغه کسان چې له دې مخکې مو کتاب ورکړی و، هغوی په دې (قرآن) ایمان راوړي. او کله چې پر هغوی لوستل کېږي وایي موږ پرې ایمان راوړی، بې شکه دا زموږ د رب له خوا حق دی، موږ له دې لا ړومبی مسلمانان وو. دغو خلکو ته به یې اجر دوه ځله ورکړی شي، چې صبر یې کړی وو، او دوی د بدۍ مخنیوی په نیکۍ سره کوي او له هغه څه چې موږ ور روزي کړي دي لګښت کوي. او کله چې چټیات یې واورېدل نو ترې په ډډه شول او ویې ویل: موږ ته خپل عملونه او تاسو ته خپل عملونه، سلام دې وي، موږ د جاهلانو خبرې نه غواړو.»** (قصص: ۵۲- ۵۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو علمي او ذهني زوال په دوولسمه او دیارلسمه پېړۍ کې پیل شو او په اوولسمه پېړۍ کې د کشف الظنون مؤلف او د زاړه طرز عالم حاجي خلیفه (مړ ۱٦٥٧) د علمِ کلام او عقلي علومو په عمومي زوال باندې د ویر او ماتم په حال کې وینو. نوموړی په **میزان الحق في اختیار الحق** کې وایي، چې امام غزالي او امام فخرالدین رازي، قاضي بیضاوي او شیرازي او قطب الدین رازي او سید شریف جرجاني او جلال الدین دواني او د هغه ټول شاګردان د خپل عصر تکړه او وتلي صاحبِفکر او صاحبِنظر خلک وو.

خو هغوی یوه شېبه هم دې ته زړه نه دی ښه کړی، چې د علم او فن په یوه ځانګړې پورې تړلې پاتې شي. حاجي خلیفه لیکلي دي:

«خو ډېرو غبي خلکو په دې بنیاد چې دغه عقلي علوم په کومه زمانه کې ممنوع شوي وو، د غرونو غوندې جامد او د پخوانیو په ړانده تقلید کې بندیان پاتې شوو. دوی بې له دې چې دا فکر وکړي، چې اوسني واقعیتونه څه دي، له نویو علومو ځخه نه یوازې سترګې واړولې، بلکې په بشپړه توګه یې رد هم کړل.

سره له دې چې دوی خپل ځانونه عالمان ګڼل، خو له آره دوی وچ جاهلان وو. او دې ته لېواله وو، چې په هغه څه ملنډې ووهي، چې دوی فلسفیانه علوم ګڼل، حال داچې دوی په دې هم نه وو خبر چې ځمکه څه شی ده او آسمان څه ته وایي. **اولم ینظروا في ملکوت السموات والارض**.


د قرآن کریم د دې لارښوونې پر دوی هېڅ اغېز نه و. دوی په دې اند وو، چې کایناتو او دې پراخې فضا ته د کتلو معنا دا ده، چې د غوا غوندې ړد، ړډ ورته وګوري.»

(پروفیسور ضیاء الحسن فاروقي)

**هغوی په سیاست کې ښکېل شوو، حال دا چې اړتیا د دې وه، چې د اسلام د فطري ځواکونو په کار اچولو کې هلې ځلې وکړي**

تر کومه چې د هندوستان خبره ده، په ۱۸۸۰ کې چې د برلین د سولې تړون لاسلیک شو او له امله یې د عثماني سلطنت ګډوډي او زوال ورسره چټک شو او په تېره بیا په ۱۹۱۱ز کې چې په طرابلس باندې اټالیا برید وکړ، له هماغه وخته د پوهنتونونو او کالجونو تعلیمیافته پوهان او د مدرسو ملایان ټول د سیاست په جال کې داسې ښکېل شوو، چې د هند د اسلامي ملت ذهني او روحاني اړتیاوو ته هېڅ چا توجه ونه کړه. په دې برخه کې د اساسي اهمیت اړتیا دا وه، چې له هر ډول انحراف او تحریف پرته او د دیني اصولو د استحکام په ساتلو سره د همدې اصولو له مخې د زاړه روایت او نوي عصر د سالمو تقاضاوو ترمنځ ربط او مطابقت پیدا شوی وای. د اسلام تمدن یو ژوندی او خوځنده تمدن دی، او د زمانې ډېرې زیاتې لوړې ژورې یې لیدلې دي، او خدای خبر له څومره ازمایښتونو نه تېر شوی دی، خو بیا هم ژوندی او باقي پاتې دی. اړتیا ده، چې د دې تمدن فطري متحرکه قوه په کار واچول شي، ځکه مسلمانان ډېره زیاته اړتیا ورته لري او دنیا یې هم غوښتونکې او منتظره ده. (لنډیز)

(c) ketabton.com: The Digital Library




## د منکرینو مزاج تل یو شان و

ربښتینولي د دې کاینات تر ټولو ستر حقیقت دی. ربښتینولي د فطرت اواز دی. د علم او عقل ټول دلایل د ربښتینولي په خوا کې ولاړ دي. هېڅ کله داسې نه دي شوي، چې سوچه ربښتینولي دې مخې ته راغلې وي او بیا دې یې په خلاف کوم مضبوط دلیل وړاندې شوی وي. خو له دې سره، سره په ټول تاریخ کې داسې شوي دي، چې د خدای هر بنده چې د حق له دعوت سره راپورته شوی دی، خلکو ترې انکار کړی دی.

**افسوس پر خلکو، هرګوره چې دوی ته کوم رسول راغلی دی، دوی پرې ملنډې وهلې دي.**

د دې انکار وجه څه ده؟ د دې تر ټولو لویه وجه دا ده، چې د حق اعلان، د سنت الله له مخې، تل د یوه «بشر» په ژبه کېږي. د فرښتو په ژبه، یا د غرونو او سمندرونو له لارې دا اعلان نه اورول کېږي. اوس دا چې عام خلک یوې خبرې ته د هغې د دروني ارزښت له پلوه نه شي کتلی، بلکې له دې نه متاثره کېږي، چې خبره چا کړې ده. نو د دوی په دې سر نه خلاصېږي، چې زموږ له منځه زموږ په څېر یو سړی څرنګه حق راوړلی شي. زموږ په څېر له غوښې او هډوکو نه جوړ یو انسان د خدای له دې نعمت نه څرنګه برخمن کېدلی شي، چې د خدای له لوري دې یې د ربښتینولی پوهه موندلې وي او هغه مقام دې ورکول شوی وي، چې نور خلک له حق نه خبر کړي.

په قرآن کریم کې راغلي چې حضرت هود علیه السلام چې کله خپل قوم ته دعوت ورکړ، نو قوم یې دا ځواب ورکړ:

**«يَا هُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: اې هوده! له کوم څرګند دليل سره نه يې راته راغلی او ستا په وينا خپل معبودان نه شو پرېښودلی او نه دې په خبره باور کوونکي يو. (هود: ۵۳)

د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم چې د مکې خلکو ته د حق پيغام واوروه، نو هغوی يې په دې خبره له منلو انکار وکړ:

«**إِنْ هَذَا إِلاَّ قَوْلُ الْبَشَرِ**»

ژباړه: دا د بشر له وينا پرته بل څه نه دي!

له دې نه په ډاګه کېږي، چې د حق د دعوت په نه منلو کې تل څه راز مزاج پاتې شوی دی؛ يانې «دا خو د هغه کس خبره ده، چې د هغه پلانکي سړي زوی دی.» يا «خپلو شخصي جذباتو دې کار ته پارولی دی؛ **لتکون لکما الکبرياء في الارض**» او يا «دی خو څکه دومره زړور شوی دی، چې له برابره مرغه يې د مرستې ځينې خلک موندلي؛ **واعانه عليه قوم آخرون**» او داسې نور.

د پيغمبر عليه السلام نوم نن ورځ د هغه مخالفين هم په درناوي او احترام سره اخلي، څکه نن ورځ د پيغمبر عليه السلام د نوم په شاوخوا کې د څوارلس سوه کلونو عظمتونه را چاپېر دي. خو په خپل ژوند کې چې دغه تاريخ له پيغمبر عليه السلام څخه نه و چاپېر شوی، نو د مکې خلکو به ورته «**ابن ابی کبشه**» ويل، چې معنا يې وه، د پلانکي کليوال زوی.

د نبوت د لومړنيو اوو کلونو پېښه ده. د قريشو مشرانو نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته وويل، چې که ستا پيغام حق وي او ته د خدای رسول يې، نو زموږ پلرونه او نيکونه راژوندي کړه او په هغو کې بايد قصی بن کلاب هم وي. که قصی بن کلاب راژوندی شو او ويې ويل چې هماغه خبره حق ده، چې ته يې وايې، نو بيا به يې موږ هم ارومرو ومنو. د دې غوښتنې ترشا ذهنيت همدا و، چې په دې وخت کې د قريشو د روايت له مخې د قصی بن کلاب په ملاتړ کې تاريخي عظمتونه ولاړ وو. حال دا چې «محمد بن عبدالله» لا تر اوسه نوی کس و او د مکې په ټولنه کې يې د عظمت هېڅ مقام نه و ترلاسه کړی.

د انسان کمزوري دا ده چې د «ظاهر» په ليدو خپل قضاوت کوي، او يو حقيقت تر هغو پورې نه مني، چې شاوخوا يې ظاهري لوازم نه وي راټول شوي. حال دا چې اصلي معرفت دا دی، چې بنده حقيقت هغه مهال ووينې، چې کله په معرا شکل کې وي. کله چې د حقيقت په شاوخوا کې د سرو زرو انبارونو راټول شي، د هغه وخت ليدل يې اعتبار نه لري. هغه وخت خو يو ړوند هم لاس پرې وهلی او په حقيقت ځان پوهولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د معاصر تاریخ یوه پاڼه

ترکیه د ختیځ او لویدیځ د اتصال نکته ده، له همدې امله له غربي تمدن سره د ټکر مسئله لومړی ځل همدلته پېښه شوه. خو د دې په ځواب کې څه وشوو. یوې خوا ته د علماوو ډله وه، چې د لویدیځ له هر شي سره دومره مخالف و، چې سلطان سلیم ثالث (۱۸۰۷- ۱۷۸۹) او د هغه ځایناستي سلطان محمود (۱۸۳۹- ۱۸۰۸) د معاصرو نظامي جوړښتونو او هغو نویو اصطلاحاتو مخالفت هم وکړ، چې د دې لپاره یې وضع کړي وو، چې ترکیه له پوځي او علمي پلوه د اروپا له نویو ځواکونو سره اوږه په اوږه تګ وکولی شي.

بلې خوا ته د ترکیې هغه نسل و، چې د پاریس او برلین او لندن په پوهنتونونو کې یې زدکړې راکړې وې، هغوی ترکیه په غربي رنګ کې رنګېدلې غوښتله. د هغوی د افراط حال دا و، چې هغوی د غربي تقلید په جواز کې پوره فلسفه اختراع کړه. ضیاء ګوک الپ وویل:

«غربي تمدن په حقیقت کې د روم سمندرګي د تمدن امتداد دی، د دې تمدن (چې نن ورځ یې موږ د روم بحیرې تمدن بولو) بنسټګر سومیریان، سیتیان، فینقیان او رعاة له ترکي نسل څخه وو.

په تاریخ کې له لرغونو زمانو نه دمخه د طوراني په نوم یو دور تېر شوی دی، په دې چې د منځنۍ اسیا لرغوني اوسېدونکي زموږ نیکونه وو. له هغه وورسته مسلمانو ترکانو دې تمدن ته وده ورکړه او تر اروپا پورې یې ورساوه، بیا د غربي او شرقي رومي سلطنت له زوال وروسته ترکانو د اروپا په تاریخ کې انقلاب راوست، او په همدې سبب موږ هم د غربي تمدن برخه یو او زموږ په کې ونډه ده.»

د دوی د فکر وروستی حد دا و، چې «له خپلو ذهنونو نه کار واخلي او خپل ځان د غرب په روښانه او عظیم تمدن کې ځای په ځای کړي.» (عرفان اورګا، اتاترک، ۲۹۷)

کمال اتاترک (۱۹۳۸- ۱۸۸۱) چې په ۱۹۲۴ کې د جمهوري ترکیې لومړنی ولسمشر وټاکل شو، نو د هغه په نزد تر ټولو مهم کار دا و، چې ترکانو ته غربي جامه ور واغوندي. نوموړي د پردې خلاف قانون وضع کړ. د عربي تورو په ځای یې لاتیني توري عام کړل. په عربي ژبه کې یې اذان بند کړ. د هېټ خولۍ استعمال یې جبري کړ. تر دې چې له یوه وینلړلي انقلاب وروسته چې کله د هېټ جګړه وګټل شوه، نو مصطفی کمال د مکې په مؤتمر الاسلامي (۱۹۲۷) کې د ګډون لپاره د خپل پارلمان یو غړی ادیب ثروت په داسې حال کې ولېږه، چې د دې غونډې یوازینی ګډونوال و، چې په سر یې غربي هېټ ایښی و. دا ګواکې د ترکیې د سترې فتحې اعلان و.

همدا مثال په هر اسلامي هېواد کې پېښ شو. د دوی ترمنځ د درجو فرق خو کېدلی شي، خو په نوعیت کې یې هېڅ فرق نشته. هر ځای همدا وشول، چې پخوانۍ مذهبي طبقې له غرب نه کرکه او اجتناب د ژوند راز لیده او عصري تعلیمیافته طبقې د لویدیځ په تقلید کې دا تمه لرله، چې دوی به یو ځل بیا د عروج بام ته ورسېږي. خو دا مثال هېڅ ځای نه لیدل کېږي، چې یو څو تنه دې په پوره شدت سره خپل قوم دې ته متوجه کړي، چې د ځواک او طاقت هغه راز معلوم کړي، چې په مټ یې غرب زموږ او د دنیا پر سر د تسلط سیوری خپور کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په اوسنۍ زمانه کې اسلامي غورځنګونه

اوسنی دور او د هغه پر وړاندې د اسلام مسئله په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې پیلېږي، چې په دې وخت کې پرتګالیانو د اروپا او هندوستان ترمنځ بحري لاره کشف کړه او په هند سمندرګي او عرب سمندرګي یې ولکه ټینګه کړه او د عربانو تجارت یې له شرقي اسیا سره پرې کړ. په اوولسمه پېړۍ کې د بخار ماشین ایجاد او په اتلسمه پېړۍ کې د معاصر ساینس منځته راتګ د اروپا لپاره د ځواک د یوه نوي ډګر په معنا و. او بیا په ۱۸۶۹ز کې چې کله سویز کانال جوړ شو او د روم سمندرګي او سور سمندرګي ترمنځ یې نبغه لاره پرانیستله، نو پر اسلامي نړۍ باندې د غربي غلبې عمل خپل وروستي حد ته ورسېده. تر څو چې دغه عمل په تجارتي بازارونو باندې د ولکې او په غیرسیاسي ډګرونو کې د نفوذ په بڼه و، خلک ترې ناخبره وو. مسلمان رهبران له دې پېښې یوازې هغه مهال خبر شول، چې کله غربي ځواکونو خپله استیلاء بشپړه کړې او په اسلامي دنیا یې خپل بیرغ رپولی و.

د نولسمې پېړۍ په پای کې په اسلامي دنیا کې راز، راز غورځنګونه راپیدا شوو. خو په دې ټوله موده کې چې بې شمېره غورځنګونه د مسلمانانو ترمنځ راپورته شول، شاوخوا ټول یې د غبرګون او عکس العمل په ذهنیت کې راپورته شوي غورځنګونه په نظر راځي. په هغوی کې یو هم داسې تحریک نه لیدل کېږي، چې د مثبت فکر له مخې دې پیدا شوی اوسي. د خارجي ځواکونو لاسوهنې چې د اسلامي ټولنې لپاره کوم مسایل راپیدا کړل، د هغو په تأثر کې ځینې خلک یوازې په ځوابي ذهن راپورته شول او له آره د خارجي حالاتو پیداوار وو، نه پر اسلامي لاربښوونو او نبوي سیرت باندې د مثبت غور او فکر پیداوار.

د غبرګون دغه ذهنیت چې په کومو، کومو بڼو ځان څرګند کړ، پر هغو باندې د ځان پوهولو لپاره کولی شو، چې دغه غورځنګونه تر څلورو عنوانونو لاندې مطالعه کړو:

۱ - د مبارزې غورځنګونه

۲ - د تحفظ غورځنګونه

۳ - د احیاء غورځنګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۴- د رغونې او استحکام غورځنګونه

د مبارزې او جګړې ذهنيت د سياسي خپلواکۍ د غورځنګونو بنه خپله کړه. لـه سيد جـمال الـدين افغـاني (۱۸۹۷- ۱۸۳۸) نه تر ابوالکلام آزاد (۱۹۵۸- ۱۸۸۸) پورې بې شمېره داسې رهبران پيدا شوو، چې د خپلو ويناوو او ليکنو پـه زور يې ټوله اسلامي نړۍ له جوش او جذبې نه ډکه کړه. د جمال الدين افغاني شعار و: **مصر للمصريين**؛ يانې مصر- د مصريانو لپاره. په ليبيا کې د اټاليا د سياسي اقتدار (۴۳- ۱۹۱۱) په زمانه کـې سـليمان البـاروني اوازه اوچتـه کـړه چې: **موتوا اليوم اعزاء قبل ان تموتوا غدا اذلاء** يانې مخکې له دې چې سبا ورځ په ذلت سره ومرئ، همدا نن ورځ په عزت سره ومرئ. د الفاظو په بـدلون سره د دغـه دور د ټولـو سـياسي رهبرانـو نعـره همـدا وه. د ميليونونـو پـه شـمېر مسلمانانو له پردي اقتدار څخه د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په نوم خپل ځانونه قربان کړل او بيليونونـه پيسـې يـې پـه دې لاره کې وبايللې. نن ورځ د دې غورځنګونو هلې ځلې د خپل ټاکلي هدف له مخې شاوخوا په ټولو هېوادونو کې کاميابې شوې دي. خو دا خبره به ناسمه نه وي، چې هغه څه چې له غربي استعمار نـه يـې د خپلـواکۍ هلـې ځلـې کاميابې کړې، هغه تر ډېره بريده پخپله د مستعمرينو خپلمنځي جګړې وې، تر يو څه بريـده لـومړنۍ نړيوالـه جګـړه (۱۸- ۱۹۱۴) او په ډېره لويه کچه دوهمه نړيواله جګړه (۴۴- ۱۹۳۹).

خو د خپلواکۍ د غورځنګونو کاميابي هغه هيلې پوره نه کړې، چې په الجزاير کې ورته ۲۵ لکه او په هندوستان کـې دوه لکه مجاهدينو خپل ځانونه قرباني کړل. په اسلامي ملتونو د غربي قومونو غلبه نن ورځ هم هماغسې ټينګه ده، او فرق يې يوازې دومره دی، چې پخوا دغه ولکه په پوځي او سياسي معنا کې وه، خو اوس يې اقتصادي او صنعتي بڼه خپله کړې ده. دا دوهمه غلبه دومره شديده ده، چې د اسلامي هېوادونو سياسي پاليسۍ هم په رښتينې معنا کې خپلواکې پاليسۍ نه دي او عملاً د هغو غربي قومونو په لاس کې دي، له چا نه چې دوی وسلې اخلي او خپله دفاع پرې کوي، او د چا په تخنيکي مرستو چې دوی خپلې تمدني ځانګې پرمخ وړي. د غربي قومونو اغېزې لا هم دومره ژورې دي، چې هر کله وغواړي احمد دبلو (۱۹٦٦) يا شاه فيصل (۱۹۷۵) دې له منځـه يـوسي. د اردن (۱۹۷۱) او شام (۱۹۷٦) په لاسونو دې فلسطيني غورځنګ وځپي. د ايران ولسي انقلاب (۱۹۵۱) دې ناکامه کـړي. مصر- دې له خپل هغه دښمن سره جوجاړې ته کښنوي، چې جمال عبدالناصر (۱۹۷۰- ۱۹۵۱) يې په اړه په غـرور کـې ويـلي و چې: **نحن ابناء الفراعنه سنرميکم في البحر** يانې موږ د فرعون اولاده يو، سمندر ته به مو وغورځوو.

### ۲- د تحفظ غورځنګونه

د تحفظ غورځنګونو په عامه توګه د ديني تعليم لور ور ونيوه. مولانا شبلي نعماني (۱۹۱۴- ۱۸۵۷) د لکنو په دارالعلوم ندوةالعلماء کې په خپله وينا کې ويلي و: «د نورو ملتونو پرمختګ دا دی، چې په مخ لاړ شي، په مخ لاړ شي. زموږ پرمختګ دا دی، چې په شا راشو، په شا راشو، تر دې چې له نبوي دور سره يو ځای شو.» د دغه ذهن له مخې پـه ټولو هېوادونو کې بې شمېره مدرسې جوړې شوې. د دې مدرسو موخه دا وه، چې اسلامي نسلونو ته د عربي ژبـې او اسلامي علومو زدکړې ورکول شي او لږ تر لږه له ذهني پلوه مسلمانان د نبوت دور ته ورسول شي او تمه دا وه، چې کوم خلک له دې مدرسو نه فارغان شي، هغوی به د زمانې له اغېزو نه د ځان د ساتنې وړتيا ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا غورځنګ په هغه معنا کې په بشپړه توګه بریالی و، چې په ټوله اسلامي نړۍ کې یې د دیني مدرسو جال خپور کړ او هېڅ کلی داسې پاتې نه شو، چې د دې مدرسو له فارغو علماوو او فضلاوو نه دې تش وي. خو تر کومه چې د اسلامي ذهن او اسلامي فکرطرز خبره ده، نو په دې برخه کې د دغو مدرسو کامیابي هم تر ډېره بریده د شک وړ ده. له دې مدرسو نه له فراغت وروسته کومو خوشبختو ته چې په همدې یا دې ته ورته مدرسو کې په کومه اداره کې ځای پیدا شو، نو هغوی بې له شکه د مدرسې ظاهري جامه په خپل حال کې ژوندۍ وساتله. ځکه چې په دې ادارو کې د پاتې کېدو او پرمختګ لپاره یې همدا جامه بیه وه. خو کوم خلک چې خپلو حالاتو له دې ادارو نه بیرون وایستل، هغوی په هېڅ معنا کې هم د غیردیني مدرسو له فارغینو سره کوم فرق نه درلوده. مسلک‌پالنه د دوی دین هم و او د هغوی هم.

د دې دوه لوی علتونه وو: یو دا چې د دیني زدکړو رهبرانو دا واقعیت په سمه توګه درک نه کړ، چې د اسلامي تعلیم مسئله، په اوسنۍ زمانه کې یوازې له اسلامي ژبې یا اسلامي احکامو سره د بلدتیا مسئله نه ده. بلکې د اوسني نظام په فکر کې د اسلام لپاره د هغه د ځای موندلو مسئله ده. دوی چې په خپلو ادارو کې کوم نسل تیار کړ، هغه سره له دې چې د اسلام په دودیزو علومو کې تکړه و، خو اسلام یې د ذهن واقعي برخه نه و ګرزېدلی. په دې چې دې نسل اسلام په هغه فکري هینداره کې نه لیده، چې دوی له عملي پلوه ورته مخامخ و. دې نسل ته چې کوم اسلام ورکول شوی و، هغه یوازې یو ډول معلوماتي پېټی و، نه کومه فکري غذا. ښکاره ده چې د نړیوالو فکرونو په سېلاب کې هېڅ کس دغه ډول پېټی تر ډېره پورې په سر نه شي ګرزولی. دوهم علت دا و، چې نویو بدلونونو د رواجي دیني زدکړو د اړیکې مزی له اقتصاد

## د اندلس امام

**ابو عبدالله لسان الدین (۷۷۶- ۷۱۳هـ) چې په ابن الخطیب مشهور و، په غرناطه کې نړۍ ته راغی. په عربي ژبه او ادب، دیني علومو، فلسفه او طب، ریاضي او تاریخ کې یې د وخت تر ټولو اعلی زدکړې وکړې. خو د غرناطي واکمن ابو الحجاج یوسف (۷۵۵- ۷۳۳هـ) دربار ته چې کوم څه ورساوه، هغه ادب او شاعري وه. پاچا دی خپل سکرتر ونیوه. او بیا یې د وزارت رتبه هم ورکړه. له ابو حجاج وروسته یې چې زوی محمد خامس د واک په ګدۍ کېناست، نو هغه هم د وزارت په مقام کې پرېښووده. خو دې پرمختګونو یې د حاسدانو شمېر هم زیات کړ. هغوی پاچا د ده په ضد بدګمانه کړ. ابن الخطیب له غرناطي نه وتښتېده او افریقا ته ورسېده. دلته یې هم په پیل کې درناوی او اکرام وشو. له هغه وروسته ځینو خلکو فقهاء د ده په خلاف ولمسول. هغوی د ده د الحاد فتوا صادره کړه. په دې سره ځینې جذباتي کسان په دېواله کور ته ور واوښتل او غاړه یې پرې تینګه کړه او ویې واژه.**

**ویل کېږي، چې هغسې چې په افریقا کې د علم او ادب امامت په ابن خلدون ختم شو، همداسې په اندلس کې د علم او ادب امامت په ابن الخطیب پای ته ورسېده. د ابن الخطیب په تاریخ کې ډېر ستر مقام و. له ده نه شاوخوا ۶۰ اثاره راپاتې دي. الاحاطه في تاریخ غرناطه (درې ټوکه) د غرناطه د مشهورو شخصیتونو د تاریخي قاموس حیثیت لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره پرې کړی و، او دا يو تاريخي حقيقت دی، چې يو تعليمي نظام چې له اقتصادي بنسټونو بې برخې وي، د ژوند په نظام کې اغېزناک مقام نه شي ترلاسه کولی.

### ۳- د احياء غورځنګونه

د احياء له غورځنګونو نه زما مراد هغه تحريکونه دي، چې د اسلامي نظام د راوستو لـه هـدف سره راپورتـه شـول. د اندونيشيا ماشومي ګوند، د مصر الاخوان المسلمون، د پاکسـتان جماعـت اسـلامي يـې مشـهور مثالونـه دي. د دې تحريکونو تصور دا و، چې په اوسنۍ زمانه کې چې مسلمانانو ته څومره ستونزې ورپېښې دي، د هغو يوازنۍ وجـه دا ده، چې د ځمکې په مخ د اسلامي قانون حکومت نه دی پلي شوی. که په اسلامي هېوادونو کې د اسلامي قـانون په بنياد د ټولنې نظام عيار شي، نو نه يوازې زموږ داخلي مسايل به حل شي، بلکې په نړيواله کچه به هـم مسـلمان بېرته هغه مقام ومومي، چې په ماضي کې يې زر کاله په برخه و.

دې تحريکونو چې د اسلام لارښوونې په څه ډول په سياسي رنګ کې بيان کړې، نو د شلمې پېړۍ د لومړۍ نيمې په ماحول کې دغه بيان ډېری مسلمانانو ته د اسلام په حق کې د وخت تر ټولو بهترينه قصيده ښکاره شـوه. دوی د سياسي مشاعرې په دې تالار کې ډېر پـه اسـاني راټـول شـوو. خـو دې مشـاعرې ډېـر دوام ونـه کـړ. دا چـې د دې تحريکونو ذهن د اسلام له سياسي تعبير څخه رغېدلی و، نو په طبيعي ډول لنډه موده وروسته دوی د خپلو هېوادونو له «غير اسلامي» حکومتونو سره په ټکر کې راغلل. دغه ټکر د هر تحريک پـه حـق کـې د چـړې او خربـوزې ټکـر ثابت شو. د مصر انورالسادات په اقتدار باندې له ولکې وروسته (۱۹۷۱) خپلو سياسي مخالفينو ته د خبرداري په ژبه وويل، چې هر څوک چې زما مخالفت وکړي، له هغه نه به کوفته جوړه کړم (**حأفرمه**). د مسلمانو واکمنو دغـه ارادې چې تر ټولو ډېر د چا په برخه کې رښتينې ثابتې شوې، هغه همدا د اسلامي نظـام غوښـتونکي حزبونـه وو. مسـلمانو واکمنو په هر هېواد کې دغه حزبونه کوفته کړل، او اوسمهال په هېڅ هېواد کې هم د دوی سياسي مستقبل نه دی پاتې.

د اسلامي نظام غوښتونکو حزبونو دغه ناکامي مازې د دوی د سياسي مخالفينو د تاوتريخوالي پايله نـه وه. بلکـې د دې حزبونو د خپلو رهبرانو دا ډېر ناسم اټکل هم لاس په کې درلوده، چې دوی فکر وکړ، چې دوی کولی شي، چې د ځايي مسلمانانو د رايو په مټ خپل حکومت جوړ کړي. خو دوی دا تاريخي حقيقت هېـر کـړی و، چـې حکومتونـه تل د غالبو فکرونو تر سيوري لاندې جوړېږي. د اوسنۍ زمانې فکري اسکلېټ په ټوله کې په سـيکولرو بنيـادونو ولاړ دی. په داسې حالت کې هېڅ څوک نه شي کولی، چې په خپل هېواد کې د اسلام سياسي جزيـره جـوړه کـړي، تـر هغو چې د زمانې افکارو د اسکلېټ په ماتولو کې نه وي بريالی شي.

### ۴- د رغونې او استحکام غورځنګونه

له رغونې او ټينګښت نه زما مراد هغه فکري کړی ده، چې ويل به يې چې له پردې اقتدار سره بايد مخامخ نښته ونه شي. دغه اقتدار بايد د چتر په توګه استفاده شي او په غير سياسي ځانګو کې خپل کار ته دوام ورکول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بده مرغه همدا هغه ذهنيت دی، چې د اوسني دور په مسلمانانو کې ډېر کم ليدل شوی دی. مفتي محمد عبده په پاريس کې د خپلې استوګنې د وختونو (۱۸۸۴) اړوند د خپل استاد جمال الدين افغاني يو تاثر رانقل کړی دی. محمد عبده د خبرو په جريان کې خپل استاد ته وويل چې له انګرېزانو او فرانسويانو سره د سياسي اخ و ډب کومه ګټه نه ترسترګو کېږي. حال دا چې په بله خوا کې زموږ لپاره يو داسې ميدان خالي پروت دی، چې موږ يقيني پايلې په کې لاسته راوړلی شو، او هغه په اروپا او امريکا کې تبليغ دی. موږ ولې داسې ونه کړو، چې خپل ځان له سياسي هدف نه لرې کړو او په پټه خوله د تبليغ او تعليم په کار کې ځان بوخت کړو. د جمال الدين افغاني انقلابي طبيعت ته دا وړانديز ډېر وړوکی ښکاره شو او ورته ويې ويل «**انما انت مثبط**» يانې ته يوازې حوصلې وژنې.

په دې ټوله زمانه کې د رغونې او استحکام د هدف له مخې هېڅ د يادونې وړ غورځنګ نه ترسترګو کېږي. د مسلمانو رهبرانو حال دا و، چې ټول د «زمانه با تو نسازد تو با زمانه ستيز» په څېر روماني خيالونو باندې فدا وو. د يوه په ذهن کې هم هغه حقيقت بينانه تګلاره رانه‌غله چې الطاف حسين حالي په بدنامه توګه په دې ټکو کې بيان کړې دی:

هوا چې په کوم لوري وي، هماغه خواته والوځه

البته په هندوستان کې په دې برخه کې دوه مستثنی مثالونه په نظر راځي، چې هغه هم دوه بدنامه شخصيتونه دي. زما مراد سر سيد احمد خان (۱۸۹۸- ۱۸۱۷) او مرزا غلام احمد قادياني (۱۹۰۸- ۱۸۴۰) دی. خان به ويل، چې انګرېزانو سره له دې چې د سياسي هلو ځلو لاره بنده کړې ده، خو له سياست پرته په نورو ډګرونو کې د رغونې او پرمختګ ټولې دروازې وازې دي:

حکومت ازادۍ درکړې دي

د ودې ټولې لارې پرانيستې دي

تعليم او اقتصاد، چې د نورو شيانو اساس دی، په دې ډګرونو کې له کوم خنډ پرته وړاندې تللی شو. مرزا غلام احمد قادياني همدا فرصت په يوه بل ډګر کې ومونده، چې د دعوت او تبليغ ډګر و. دی په دې فکر و، چې د دعوت له لارې موږ نه يوازې د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د ځان لپاره د کار فرصتونه موندلی شو، بلکې د واکمن قوم په منځ کې هم زموږ لپاره د هلو ځلو ميدان پرانيستی دی. بله دا چې دا کار پخپله د اسلام مهم‌ترين مقصود هم دی او بلاخره تر هغې غلبې پورې د رسېدو لاره هم ده، چې موږ د سياسي زورواکۍ له لارې نه شو ورته رسېدلی.

دغه دواړه تحريکونه، په خپله ابتدايي بڼه کې ډېر ګټور او لرليدونکي غورځنګونه وو. خو له بده مرغه دوی عام مسلمانان له ځان سره ملګري نه کړای شول. دې دوه اړخيز علت درلوده. يوه خوا زموږ د مشرانو ذهن له استعمارضد فکرونو څخه دومره اغېزمن شوی و، چې له بلې زاويې نه فکر کول اصلا ورته ممکن نه و. دوی ته هر هغه سړی د استعماري ځواک اجنټ ښکارېده، چې له دښمن سره به يې د سياسي مبارزې خبره نه کوله. د دې وروستی حد دا دی، چې د علي‌ګړ د پخواني استاد پروفيسور آرنولډ ارزښتناک کتاب «د اسلام تبليغ» هم زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

رهبرانو ته د استعماري موخو له مخې ليکل شوی کتاب ښکاره شو. ځکه په دې کتاب کې د تورې په ځای سوله‌ييز تبليغ د اسلام د اشاعت وسيله ښودل شوې وه.

بله وجه يې دا وه، چې د دې نظريې دواړو مخکښانو له ځانه هغه اهليت ونه ښوده، چې دوی د خپل ليدلوري سمه دفاع کولی شي. سرسيد احمد خان د خپل دريځ په ملاتړ کې دا ساده‌توب وکړ، چې هڅه يې وکړه، قرآن کريم د نولسمې پېړۍ د غربي افکارو په قالب کې ځای کړي. د ده د اخلاص په ثبوت کې همدا بسنه کوي، چې ده «تهذيب الاخلاق» د خپل شخصي فکر استازی اثر وښووده او کوشش يې و چې له علي‌ګړ کالج نه يې لرې وساتي. خو له عملي پلوه دا وېش ممکن نه و او د يوه سم کار لپاره ناسم استدلال د ده هدف د خلکو په سترګو کې مشکوک کړ.

همدغه ډول تېروتنه په يوه بله بڼه مرزا غلام احمد قادياني وکړه. ده چې خپلې هڅې پيل کړې، نو دا هغه مهال و، چې ټول مسلمان رهبران د انګرېزانو پر ضد د خپلواکۍ په جګړه کې بوخت و. دې جذباتي مجاهدينو احساس کړه، چې قادياني بهير مسلمانان د سپېڅلي جهاد له سنګر نه اړوي او غواړي چې د سوله‌ييز تبليغ په ډګر کې يې مصروف کړي. مرزا صاحب د دې په ځواب کې وويل چې جهاد (د سياسي مبارزې په معنا) کوم مستقل شرعي امر نه دی، بلکې يوازې د دفاعي ضرورت له مخې فرض شوی دی. خو زموږ د خپلواکۍ د مجاهدينو لپاره دا ځواب اطمينان بښونکی نه و او فتوا يې ورکړه، چې غلام مرزا احمد قادياني د انګرېزانو اجنټ دی. اوس مرزا صاحب يو بل ګام هم وړاندې کېښود او د دې لپاره چې خپله خبره مستنده وښيي، اوازه يې ګډه کړه، چې ده ته وحي راځي او دی چې څه وايي، د خدای له لوري يې وايي. دا دعوه له خپلې ټولې غلطي سره، سره په پخوا وختونو کې نادره خبره نه وه، په دې چې زموږ ډېری مشرانو مثلاً شاه ولي الله (١٧٦٢- ١٧٠٣) هم د **الهمني ربي** (زما رب الهام راته وکړ) په څېر اصطلاحاتو کې خبرې کولې. خو د مرزا صاحب په غلطي کې هغه وخت لا ډېر قباحت پيدا شو، چې په صافو ټکو کې يې د نبوت دعوه وکړه، او د نبوت له خاتمې وروسته دغسې دعوه په اجماعي ډول د کفر مستلزم ده.

د دې علتونو پايله دا شوه، چې د دوو خواوو ترمنځ چې کومه مکالمه بايد د «حالاتو له مخې د اسلامي تګلارې پلان‌ګذاري» تر عنوان لاندې شوې وای، هغه د قرآن کريم د معاصر تفسير او له محمدي نبوت وروسته د بل نبوت په څېر مسايلو باندې متمرکزه شوه. که په ابتدا کې د سر سيد احمد خان او مرزا غلام احمد قادياني مخالفين په غلطي باندې وو، نو په انجام کې يې سر سيد او مرزا قادياني د لا سختو تېروتنو ښکار شول او ملت ته د کفر او فسق له فتواوو پرته نور هېڅ هم ورپاتې نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ؟ سوال او ځواب

د الرساله په مارچ ګڼه کې د «یوه کورنۍ جګړه چې په ټول تاریخ یې سیورۍ خپور شو» تر عنوان لاندې ستاسې یوه مقاله خپره ده. زه غواړم، چې د هغه مضمون ځینو اقتباساتو ته مو توجه واړوم. «حقیقت دا دی، چې که د راشده خلافت په پای کې خپلمنځې جګړې نه وای پیل شوې، نو د ځواک او زور کوم بې ساری سېلاب چې له عربي نړۍ راپورته شو، هغه به د اسیا، افریقا او اروپا ټولې سیمې د توحید په سیمو بدلې کړې وې.» په دې کې شک نشته، چې دې جګړو اسلامي بهیر ته ډېر جدي تاوانونه واړول، خو که له دغه ډول لیکنې نه یو څوک دا وانګېري، چې اسلام د تورې په مټ خپور شو، نو آیا دا به ناسمه وي؟

«حضرت عمر رض له ځان نه وروسته علي بن ابي طالب د خلافت لپاره ډېر وړ کس لیده. خو د همدې اندېښنې له مخې یې حضرت علي د خلافت لپاره ونه شو نومولی.» د دغه ډول اندېښنې لپاره پوخ ثبوت څه دی؟ سوال دا نه دی، چې د خلافت لپاره وړ شخص حضرت علي دی یا عثمان رض. سوال دا دی، چې د حضرت عمر رض په څېر محتاط او د برجسته ارادي قوې له سړي نه (چې حضرت خالد بن ولید یې یوازې له دې امله له سپه سالارۍ معزول کړی و، چې مسلمانان دا ونه ګڼي، چې دا فتح د خالد رض له امله شوې ده) دا تمه هېڅ کله نه شي کېدلی، چې هغه دې مازې د یوه سیاسي مصلحت له مخې اسلامي غورځنګ د یوه مناسب‌ترین شخص له رهبرۍ نه بې برخې کړي.

(له پورتنۍ مقالې نه له ځینو نورو اقتباساتو راوړلو وروسته)

سنجیده تاریخ لیکونکي دغه ډول تبصرې نه خوښوي. زه پخپله هم د تاریخ زده کوونکی یم او زه ګورم، چې په تاریخي عمومیت (Historical Generalizations) کې دغسې تېروتنې ډېرې عامې دي. له همدې امله ویل کېږي، چې د تاریخ د ځینو ترخو حقایقو په اړه چې هر ډول نظر ورکوو، نو باید بدلېدونکی (tentative) یې وګڼو او ډېر احتیاط په هم په کې پکار وي. اوس هر څوک دا ویلی شي، چې د مولانا وحیدالدین خان په څېر د عالم دغه فکر... دی. بې شکه د فکر تر بریده هر سړی ازاد دی. خو دغسې عمومي سازۍ د ځینو سختو ورانپوهاویو سبب ګرځي.

**توقیر احمد**

**له خدای نه د وېرې نښه دا ده، چې بنده له انسان نه و وېرېږي. په دې مفهوم کې نه، چې یو څوک زورور وي یا مو په چا پورې ګټې ترلې وي، له هغه نه و وېرېږئ. دا خو دنیاپرستي بلکې شرک دی. له انسان نه د وېرېدو معنا له حقداره کس نه وېرېدل دي. له خلکو سره په دې فکر معامله کول، چې د هر انسان تر شا د هغه خدای ولاړ دی او خدای تل د هغه چا ملګرتیا کوي، چې حق یې خوړل شوی وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځواب:** د تاريخي جنرلايزيشن په اړه ستاسې خبره په ځای ده. خو ستونزه دا ده، چې په تاريخ کې له دغه ډول جنرلايزيشن نه تېښته ناشونې ده. د تاريخ په يوه يا ګڼو پېښو کې چې کله تاسې قضاوت کوئ، يا يې د تعبيرولو هڅه کوئ، نو ارومرو به تاسې هم په هماغه مقام کې دربېږئ، کوم مقام کې چې تاسې هڅه کړې، د الرساله مقاله ليکونکی ودروئ. له دې څخه نه تاسې مستثنا کېدلی شې، نه کوم بل مؤرخ. مثلاً د خپرې شوې مقالې په ځينو برخو چې تاسې نيوکې کړې دي، هغه هم د جنرلايزيشن صورتونه دي. تاسې وايئ، چې له پلانکي پراګراف نه دا مطلب ايستل کېدلی شي، چې اسلام د تورې په زور خپور شوی دی، يا د پلانکي عبارت معنا دا راوځي، چې عمر فاروق رض د سياسي مصلحت ښکار شوی و، دا ټول هم د عمومي سازي صورتونه دي. د تاريخ د زده کوونکي په توګه به تاسې له دې ناخبره نه ياستئ، چې په تاريخ کې د نظرونو يو رنګي هغسې امکان نه لري، لکه په فزيک او کيميا کې يې چې لري. يو کس چې يوه تاريخي مقطعه په يو ډول تعبيروي، نو هغه چې په کوم نازک مقام کې ولاړ وي، په هماغه مقام کې هغه دوهم شخص هم ولاړ وي، ځوک يې چې هغه تعبير ننګوي. له همدې امله په تاريخ کې دا خبره بې معنا ده، چې جنرلايزيشن مه کوئ، تاسې يوازې دا کولی شئ، چې په دلايلو او شواهدو سره يو بل داسې جنرلايزيشن وړاندې کړئ، چې ستاسې په نزد به د پېښو ډېر صحيح تعبير وي.

«د تاريخ د ځينو ترخو حقايقو په اړه چې هر ډول نظر ورکوو، نو بايد بدلېدونکی (tentative) يې وګڼو» زه ستاسې له دې خبرې سره موافق يم، خو يوازې دا خبره بايد ورزياته شي، چې د تاريخ په هکله هره نظريه همېش بدلېدونکې نظريه وي. هېڅ نظريه داسې نشته، نه يوازې ماضي بلکې د حال په هکله هم نشته، چې مطلق صداقت دې ورته وويل شي. که کوم شخص په دغسې غلطفهمي کې مبتلا وي، نو د هغه په اړه به همدا ويل کېږي، چې هغه نه د انساني علم له حدودو خبر دی او نه د تاريخ د موضوع له نزاکتونو.

په تاريخ کې دا خبره د منل شوي حقيقت حيثيت لري. د همدې لپاره تاسې بايد دا ټينګار ونه کړئ، چې يو کس چې کله د تاريخ په هکله د خپلې مطالعې نتيجه وړاندې کوي، نو په پای کې دې دا جمله هم ورسره وليکي چې «لوستونکي دې مازې د tentative خبرو په توګه زما افکار مطالعه کړي.»

> **د ده اخبار هلته هم رسېدلی و، چېرته چې نه شوی رسېدلی**

دا د روسيې د کمونيستي حزب د تاريخ يوه وړه پېښه ده، خو په دې پېښه کې ډېر لوی پند راټول دی.

دا د هغه وخت پېښه ده، چې د اکتوبر ۱۹۱۷ز انقلاب لا نه و پېښ شوی. په روسيه کې د بالشويکو (د کمونيستانو پخوانی نوم) د زياتېدونکو اغېزو د مخنيوي لپاره د روسيې پاچا (زار) بالشويک ګوند د قانون خلاف اعلان کړی و. او د ټولو لويو، لويو رهبرانو د نيونې امر يې صادر کړی و.

ځينې رهبران ونيول شول، او ځينو ځان وژغوره او ځنګلونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غارونو کې پټ شول. په همدې پټو کسانو کې د بالشویک گوند لوی رهبر لینن هم و. لینن د ځنگونو او سمڅو په منځ کې یوه لرې سیمه د ځان استوگنې ته غوره کړه او همالته یې په پټه خپله ورځپاڼه را وایستله. دا ورځپاڼه به په لاسي مطبعه کې چاپېدله او په لاسي ډول به د روسیې ښارونو ته په پټه رسېدله.

> **ژوندیو بازار دی.**
>
> **دلته هماغه وخت یو شي چاته رسېږي، چې کله یې د بیې پرې کولو لپاره په جېب کې پیسې پرتې وي.**
>
> **که تاسې له چانه کوم څه اخیستل غواړئ، نو لومړی باید وگورئ، چې تاسې یې په مقابل کې هغه ته څه ورکولي شئ.**
>
> **یوازې همدا د ورکړې حالت تاسې ته د ترلاسي استحقاق درکوي، نه د شکایت او مطالبې حالت.**

د یوې ورځې واقعه ده. یو کس د روسیې په یوه ښار کې د پنساري دوکان ته د ځینو شیانو د خریداري لپاره ورغی. ده چې کله سامان کور ته راووړ او د پنساري دوا یې خلاصه کړه، نو ناڅاپه یې په کاغذ باندې چاپ شویو خبرو ته پام شول. د کاغذ دغه ټوټه د ورځپاڼې پرې شوې پاڼه وه، چې په آتشینو کلمو او اورني عنوان یو مطلب په‌کې خپور شوی و. د کاغذ په دغه ټوټه لیکل شوی عبارت چې دې سړي ولوسته، نو یو عجیبه کیفیت یې په ځان کې احساس کړ. ده یاد عبارت بیا بیا ځلې ځان سره لوسته او خپل زړه یې پرې توداوه، تر دې چې فکر یې شو، چې دا معلومه کړي، چې د دې عبارت لیکوال څوک دی او د کومې ورځپاڼې ټوټه ده، چې د پنساري له دوکان نه یې ترلاسه کړه. دی یې په لټون پسې راووت، جوینده یابنده. بلاخره پوه شو، چې د روسي ژبې دغه ټوټه د لینن د هغې ورځپاڼې پرې شوې پاڼه ده، چې دی یې په پټه خپروي. اوس د سړي مینه لا ډېره شوه او په گرځېدو، گرځېدو یې تر هغې سمڅې پورې ځان ورساوه، له کوم ځایه چې لینن په پټه خپله ورځپاڼه خپروله. له هغه وروسته تر پایه پورې دی د لینن ملگری پاتې شو. دغه ډول ډېر زیات خلک دي، چې لینن یې د خپلې ورځپاڼې په زور زړونه وگټل. لینن د روسي پاچا له پولیسو نه د ځان ژغورنې لپاره په غار کې پټ شوی و، خو د خپلې ورځپاڼې په مټ هر ښار ته رسېدلی و. تر دې چې په بازار کې د پنساري دوکان هم د ده په ملاتړ کې د پروپاگند مرکز گرځېدلی و او «د ده ورځپاڼه هلته هم رسېدلې، چېرته دی پخپله نه شوی رسېدلی.»

دا دی په اوسني زمانه کې د رسنیو څواک. خو هیښوونکې خبره دا ده، چې پنځوس کاله پخوا چې باشعوره خلکو له دې څواک نه کوم کار اخیستی و، موږ تر اوسه پورې هغه ځای ته هم نه یو رسېدلي او د نن ورځې ژوندي ملتونه چې له رسنیو نه کوم کار اخلي، له هغه نه خو عام مسلمانان خبر هم نه دي. حقیقت دا دی، چې په دې برخه کې نور ملتونه له موږ نه دومره مخکې دي، چې موږ ورپسې هم نه یو. **د ورپسې والي معنا خو دا ده، چې موږ هم یو چېرته یو. حال دا چې اصلي خبره دا ده، چې موږ د هغوی په نسبت هېڅ چېرته هم نه یو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پاچاهانو مجلسونه به د ملايانو په فقهي او کلامي بحثونو تاوده وو او په همدې وخت کې د اسلام د دعوت او خپراوي ډګر وران پروت و

د مسلمانو پاچاهانو له امله په هندوستان کې علماوو او صوفيانو ته د استحکام او د اسلامي لارښوونو د خپراوي ډېر لوی فرصت په لاس ورغی او په هره زمانه کې به په ډېر کثرت سره علماء پيدا کېدل. د ډېلي پاچاهانو په ابتدايي زمانه کې زياتره علماء له نيشاپور، صغان، غزنين، کاشان، بلخ، سجستان، خوارزم او تبريز نه راغلل، چې له نومونو يې ښکاري او له ځان سره يې حنفي فقه هم راوړه. له حجاز نه د راتلونکو علماوو شمېر کم و، له همدې امله په هندوستاني فقه کې عراقي او ترکستاني اثرات ډېر غالب پاتې شوو، او همدا فقه په هندوستان کې دود شوه، چې ډېر منظم تدوين يې په تاتارخاني فتاوا او عالمګيري فتاوا کې ليدلی شو.

د ډېلي پاچاهانو په حکومت کې تر ټولو ډېر علماء د علاؤالدين خلجي په زمانه کې وو، د دوی اجتماع به دومره شانداره وه، چې ضياء الدين برني ليکلي دي، چې په دې وخت کې په اسلامي نړۍ يانې بخارا، سمرقند، مصر، خوارزم، دمشق، تبرېز، صفاهان، رۍ او روم کې د دې سيمې د علماوو ساری نه ليدل کېده. په ټولو علومو کې د بشپړ تبحر لرونکي علماء همدلته موجود وو، مولانا ضياءالدين برني له ډېر وياړ نه د هغوی په اړه تر دې بريده ليکلي دي، چې ځينو علماوو خو له امام غزالي او امام رازي سره سيالي کوله، او د فقهې ځينې پوهان د امام ابو يوسف او امام محمد مرتبې ته رسېدلي وو، پخپله اميرخسرو د ډېلي وياړ و، برني، خسرو د اسلام په ځلي ياد کړی دی، د محمد تغلق په زمانه کې د علماوو شمېر تر دې هم ډېر شو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلقشندي بیان دی، چې د پاچا په مړی به دوه سوه فقها راټول وو او له پاچا سره به یې مذهبي مذاکرې کولې. فیروز شاه تغلق له فقهاوو دومره اغېزمن و، چې د فیروزشاهي فتاوا په نوم یې خپله فقه پرې تدوین کړه، مگر شهرت یې ونه مونده. د سکندرلودي په خوابگاه کې به هره شپه اویا علماء راټولېدل او پاچا به له هغوی نه د فقهي مسایلو پوښتنې کولې.

د مغلو په دور کې هم د علماوو شمېر ډېر و، ملا عبدالقادر بدیواني د خپل عصر د ۶۹ ممتازو علماوو حالات لیکلي. په همدې ډول د مأثر رحیمي لیکوال ۳۲ داسې علماء یاد کړي دي، چې د عبدالرحیم خانخانان په دربار پورې تړلي وو. د عالمگیر په زمانه کې چې کوم علماء د ده په دربار کې په بېلا بېلو برخو کې مامور وو، د هغوی شمېر هم ۴۲ رسېده. د عالمگیر له زماني نه د مولانا شاه عبدالرحیم له کورنۍ نه چې کومه طلایي لړۍ راپیل شوه، پر هغې تر ننه پورې مسلمانان ویاړي. د دغو علماوو نومونو ته په کتو داسې ښکاري، چې په دې دور کې به هم د شېراز، کاشان، تبرېز، گېلان، مشهد او ترکستان علماء راتلل، خو د هغوی په پرتله د هندوستاني علماوو شمېر ډېر و، او د حنفي فقهې په وده او د هغې منظم تدوین د عالمگیري فتاوا په شکل ترسره شو، چې د عالمگیر یوه ستره علمي او فقهي کارنامه گڼل کېږي.

له حنفي فقهې سره د شافعي، مالکي، حنبلي او شیعه فقهې ټکر هم راغی، خو اکثریت د حنفي فقهې د پیروان وو، او دا د مغلو د پاچاهۍ په زړه پورې اړخ دی، چې د وزارت په منصب باندې تر ډېره شیعه امیران مامور وو. مانۍ تر اوږدې مودې پورې د راجپوتو شهزادگیو تر لاس لاندې وه، خو پر سلطنت باندې د حنفي فقهې غلبه وه. (ماخوذ)

## د هغوی هر یو په خپل رول پوهېده

حویطب بن عبدالعزی، د مکې له فتحې وروسته د بیعت کولو په هدف نبي کریم ص ته راغی، نو حویطب له خپل پخواني دوست ابوذر غفاري رض نه پوښتنه وکړه، چې نبي کریم ص سره ستړي مشي څرنگه کېږي «**کیف یقال اذا سُلم علیه**».

هغه ورته وویل، چې کله یې خواته ورغلې، نو داسې ووایه: «**اسلام علیک ایها النبی ورحمة وبرکاته.**» دا د پیغمبر دنده نه وه، چې پخپله هر سړي ته ووایي، چې په څه ډول دې ورسره خبرې اترې وکړي، دا هغه کار و، چې د نبي کریم ص ملگري باید پخپله پرې پوهېدلی.

د نجران خلکو ته چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مکتوب ورسېده، نو هغوی له غور او فکر وروسته د پیغمبر علیه السلام حضور ته خپله ډله ولېږله، تر څو د سولې د تړون مادې ورسره وټاکي. هغوی چې مدینې ته راورسېدل، نو د خپل سفر ساده جامې یې بدلې کړې او ورېښمینې جامې او د سرو زرو گوتمۍ یې واغوستې او د پیغمبر علیه السلام لیدو ته راغلل. هغوی سلام وکړ، نو پیغمبر علیه السلام د سلام ځواب ورنه وکړ. هغوی تر ډېره د پیغمبر علیه السلام په خوا کې ناست و، خو پیغمبر علیه السلام له هغوی سره هېڅ خبرې ونه کړې. له هغه وروسته دغه ډله د حضرت عثمان رض او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عبدالرحمن بن عوف لیدو ته ورغله، چې دمخه یې هم ورسره لیدنه شوې وه. هغوی چې کله دا خبره واورېدله، نو حضرت علي رض یې راوغوښته او مشوره یې ورسره وکړه. حضرت علي رض وفرمایل، چې دا خلک دې خپلې مُزیّنې جامې او طلایي ګوتمې وباسي او د خپل سفر په ساده جامو کې دې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورشي. دوی همداسې وکړل، او اوس نبي کریم ص د هغوی سلام هم ځواب کړ او خبرې یې هم ورسره وکړې او ویې فرمایل: **والذي بعثني بالحق لقدا اتو فی المرة الاولی و ان ابلیس معهم**.

ژباړه: په هغه ذات مې دې قسم وي، چې زه یې په حق رااستولی یم، لومړی پلا چې دوی زما څنګ ته راغلل، نو شیطان ورسره ملګری و.

د دې معنا دا ده، چې کله هغوی د په فاخره جامه کې ورته راغلل، نو نبي کریم ص داسې احساس کړه، چې دا شیان به په دوی کې د برتري احساس پیدا کړي او د هغوی متکبرانه ذهنیت به د ګټوري مکالمې مخه ونیسي. خو دا خبره پیغمبر علیه السلام په خپله ژبه نه شوه کولی، حضرت علي رض دا ټکی درک کړ او خپل رول یې ترسره کړ.

سعد بن معاذ انصاري د مدینې ډېر ممتاز سړی و «**کان من اعظم الناس واطولهم**». امام احمد له حضرت عایشې رضي الله عنها نه روایت رانقل کړی دی، چې د خندق په غزوه کې نوموړی ټپي شو. ابن العرقه قریشي۔ د غشي وار پرې کړ او د ده اکحل رګ غوڅ شو. په دې وخت کې د ده له ژبې دا دعا ووتله: **اللهم لا تمتني حتی تقر عینی من بنی قریظة**.

خدایه! تر هغو مرګ مه راته راوله، چې په بني قریظه مې سترګې یخې نه شي.

بنو قریظه یهودي قبیله وه، چې په مدینه کې مېشته وه. دا قبیله به تل د مسلمانانو په خلاف په سازشونو کې مشغوله وه. د خندق په غزوه کې هغوی په ښکاره د قریشو ملګرتیا وکړه. او دا په سپینو سترګو د درغلۍ کړنه وه. نو د خندق غزوه چې څرنګه پای ته ورسېده، نبي کریم ص د دوی کلا محاصره کړه. او له ۲۵ ورځې محاصرې وروسته هغوی وویل، چې سعد بن معاذ چې هره پرېکړه وکړي، موږ ورته غاړه ږدو. سعد بن معاذ له اسلام نه دمخه د دوی حلیف و. نوموړی په ټپي حالت کې په خچر سپور راوستل شو او د تورات مطابق یې پرېکړه وکړه، چې د دوی جنګي نارینه دې ووژل شي، د دوی اولادونه دې ونیول شي او مالونه دې یې ضبط شي. تر هغه وروسته یې دعا وکړه: **اللهم ان کنت ابقیت علی نبیک من حرب قریش شیئا فابقنی لها و ان کنت قطعت الحرب بینه و بینهم فاقبضنی الیک**.

ژباړه: خدایه! له خپل پیغمبر سره د قریشو په جنګ کې که تا کومه برخه پرې ایښې وي، نو ما د هغې لپاره وساته. او که تا د دوی ترمنځ جګړه ختمه کړې وي، نو ما خپل ځان ته در وغواړه.

د دې دعا شالید دا و، چې سعد بن معاذ د خپل شخصیت، خپل تاریخ او یهودو سره د تعلق په اساس په مدینه کې یوازنی څوک و، چې د یهودو پر سر د دغسې پرېکړې لپاره مناسب کېدلی شوی، ده فکر وکړ، چې کله د پیغمبر علیه السلام لپاره دغه کار سرته ورسوم، نو له هغه وروسته دې له دې دنیا لاړ شم. تر ما وروسته به د دې کار لپاره بل وړ شخص نه وي.

**خومره باشعوره وو د رسول الله ص دا ملګري!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان هماغه شی له لاسه ورکوي چې غواړي لاسته يې راوړي

ابن عبدالبر په استيعاب کې د قتاده روايت رانقل کړی دی. عمر فاروق رض چېرته روان و. په لاره کې له يوې زړې ښځې سره مخ شو. عمر سلام پرې وکړ. د سلام له ځواب وروسته هغې وويل: «اې عمره! يو وخت و، چې ته مې د عکاظ په بازار کې ليدلی وې. هغه وخت به يې تاته عمير ويل. په لاس کې به دې لښته وه او اوزې به دې څرولې. بيا ډېره موده نه وه تېره شوې، چې تاته يې عمر رض ويل پيل کړل. بيا يو وخت راغی، او اوس تاته اميرالمؤمنين ويل کېږي.

ګوره، د ولس په حق کې له الله نه ووېرېږه او په ياد ولره، چې څوک چې د الله له وعيد نه وېرېږي، د هغه لپاره د لرې سړی هم د نيږدې خپلوانو غوندې وي او څوک چې له مرګ نه وېرېږي، د هغه په برخه کې وېره ده، چې هغه به هماغه شی له لاسه ورکړي، چې دی يې ساتل غواړي.»

جارود عبدي، چې په دې وخت کې له عمر فاروق سره يو ځای و، د دې خبرې په اورېدو وويل: اې ښځې! تا له امير المؤمنين سره ډېره ژبه وچلوله. خو عمر فاروق رض وفرمايل، پرېږده چې وغږېږي، پوهېږې، چې دا څوک ده؟ د دې خبره خو تر اوو اسمانونو بره اورېدل شوې وه. عمر خو يې بايد په لومړي سر کې لا واوري.

دا ښځه د خزرج قبيلې خوله بنت ثعلبه وه، چې په قرآن کريم کې يې د ۵۸ سورت په پيل کې يادونه راغلې ده: «يقيناً الله د هغې ښځې وينا واورېده چې تاسره يې د خپل خاوند په هکله...»

**د سمو هڅو کوونکو لپاره د ناکامۍ هېڅ امکان نشته**

څوک چې حرکت کول غواړي، د هغه لاره هېڅ کله نه تړل کېږي. کاز چې ښکته ځای ونه مومي، نو بره خېژي او د ځان لپاره ځای پيدا کوي. اوبو ته چې لوړه لاره ور نه کړې، نو د ځوړ په لور خپله د بهېدو لاره لټوي. ونه چې د ځمکې په سر ونه شي درېدلی، نو د ځمکې په خېرلو د ځان لپاره د ژوند حق ترلاسه کوي.

همدا طريقه بايد تاسې هم غوره کړئ، ستاسې لومړنی کار دا دی، چې خپل ځان وپېژنئ، خپل ځواکونه په سمه توګه منظم کړئ او بيا د ماحول له پېژندو وروسته په ماحول کې داسې ځان ورننباسئ، چې د هغه په مقابل کې تاسې د خپلې ورتيا د ثابتولو لپاره په بشپړه توګه سمبال اوسئ. په حالاتو باندې د خپلې زړورتيا د منلو لپاره مو بايد د اړينو اړخونو چاره کړې وي.

استعداد پيدا کړئ او په هوښيارتيا د ځان لپاره لاره وباسئ، تر هغه وروسته به هېڅ کله له چاپيريال ګيله ونه کړئ. د ژوند په هېڅ پړاو کې به ځان ناکامه محسوس نه کړئ. ناکامي او مايوسي يوازې هلته راځي، چېرته چې تاسې د اړينو شرطونو په پوره کولو کې ناراستي کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغوی ته د خپل ناخدا پرسته ژوند لپاره د خدای په کتاب کې دلیل موجود و

د مسیح له راتلو دمخه یهودیان حضرت مسیح ته سترګې په لاره وو او دعا به یې کوله چې «خدایه! مسیح ژر را ولېږه.» خو کله چې مسیح په یوه یهودي کورنۍ کې نړۍ ته راغی، نو هغوی یې له منلو انکار وکړ. تر دې چې په خپل ګمان یې په دار راوځړاوه. او بیل زبوب (شیطان) نوم یې پرې کېښود.

داسې ولې وشول؟ د دې وجه هماغه «شک» و، چې د مصریانو لپاره د حضرت یوسف ع د نبوت په منلو کې خنډ شوی و. حضرت مسیح له ځان سره دنیوي شان او دبدبه نه وه راوړې، بلکې د عامو انسانانو غوندې یو عادي انسان و. یهودیان په دې خبره ونه پوهېدل، چې د دوی په څېر یو سړی دې هغه ستر انسان وي، چې وړاندوینه یې په مقدسو کتابونو کې شوې ده.

یهودیانو له حضرت مسیح نه د انکار ډېره اسانه لاره موندله. د دوی په کتابونو کې د وروسته زماني لپاره د دوو پیغمبرانو وړاندوینه شوې وه. یو مسیح او بل «هغه پیغمبر». نو دوی داسې وکړل، چې د حضرت مسیح لپاره یې هغه معیارونه کېښودل، چې اصلاً د «هغه پیغمبر» لپاره ښودل شوي وو. خو دا چې دغه معیارونه په حضرت مسیح نه شوی برابرېدلی، نو دوی اعلان وکړ، چې دا «دروغجن مسیح» دی. که دی ریښتونی وای، نو ارومرو به زموږ په اسماني کتابونو کې راغلو وړاندوینو صدق پرې کړی وو.

> **مفتي محمد عبده خپله یوه خاطره بیانوي، چې یو ځل په یوه مېلمستیا کې ناست و. په دې مېلمستیا کې ده سره نور لوی، لوی علماء هم وو. مفتي محمد عبده په کاشوره یو څه وریورته کړل او څولې ته یې یووړل، نو د ازهر یوه عالم په تعجب سره وویل:**
>
> **احلال هذا ام حرام** (دا کار حرام دی که حلال؟)


دوی ویل، چې د مسیح راتګ به، د تورات د نص له مخې له ځینو نښو سره وي. او تر څو چې دا نښې نه وي ښکاره شوې، هر څوک چې د مسیح کېدو دعوه لري، هغه به دروغجن وي. په دې نښو کې یوه دا ده، چې مسیح به له یوه نامشهور ځای نه راڅرګندېږي. خو موږ ټول پوهېږو، چې د دې سړي کور په ناصره کې دی او ناصره د فلسطین یو مشهور او پېژندل شوی ښار دی. بله نښه یې دا ده، چې دی به د اوسپنې له امسا سره حکومت کوي. یاني له تورې نه به کار اخلي. خو له دغه مدعي مسیح سره د لرګي یوه لښته هم لا نشته. دریم شرط یا نښه دا ده، چې هغه به د داؤد ع په تخت کېني او د داؤد پاچاهي به راژوندۍ کوي. حال دا چې د مسیح حال دا دی، چې له ده سره د ناستې ټغر هم نشته. دغه راز یو شرط دا دی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی به د تورات شریعت له سره پلي کوي. خو دې سرړي خو هغه شریعت منسوخ کړ. د مسیح یوه نښه دا ده، چې د ده په زمانه کې به عدل او انصاف دومره وده وکړي، چې نېکي او خواخوږي به انسان خو انسان، په حیواناتو کې هم موندل کېږي. حال دا چې د مسیح په زمانه کې دا حال دی، چې هره خوا د ظلم او بې انصافي چرچه ده. دغه راز، بله نښه یې دا ده، چې د مسیح په وخت کې به خدای پرسته وګړي دومره بریالي وي، چې د ټولې نړۍ قومونه به فتحه کړي. خو موږ د خورا ذلت او غلامي په حالت کې د رومیانو تر لاس لاندې ژوند کوو. نو دا سړی هغه مسیح څرنګه کېدلی شي، چې په تورات کې یې وړاندوینه راغلې ده.

دا څومره معیارونه چې یهودو وړاندې کړل، هغه ټول په تورات کې لیکلي دي. خو دا ټول د «هغه پیغمبر» معیارونه دي، نه د مسیح. یهودو د «هغه پیغمبر» معیار د مسیح د انکار لپاره وکاراوه. خو کله چې «هغه پیغمبر» د عربو په یوه ګمنامه سیمه کې د «محمد بن عبدالله» په څېره کې نړۍ ته راغی او خدای چې کله ټولې هغه نښې ورباندې پوره کړې، چې په تورات کې لیکلې وې، نو هغوی د پیغمبر علیه السلام د انکار لپاره یو بل علت وموندہ. دوی وویل «تر اوسه پورې ټول پیغمبران د اسرائیلو په کورنۍ کې راغلي، نو بیا د اسماعیل په کورنۍ کې پیغمبر څرنګه پیدا کېدلی شي.»

یهودو د حضرت مسیح د انکار لپاره دا وکړل، چې د وروستي پیغمبر نښې یې هغه ته منسوب کړې، چې په ښکاره هغو نښو په حضرت مسیح پورې اړه نه لرله. او کله چې وروستی پیغمبر راغی، نو هغه یې په هغو نښو وارزاوه، چې د هغوی په کتاب کې د حضرت مسیح لپاره ښودل شوې وې. په دې ډول یې له دواړو نبیانو نه انکار وکړ. او په دواړو موقعو کې دوی سره د دې خبرې لپاره ښه ډېر الفاظ وو، چې موږ چې څه کوو، د کتاب‌الله په رڼا کې یې کوو. موږ د خدای له کتاب نه اخوا د ځان لپاره کوم دریځ نه دی غوره کړی!



که تاسې لړګی مات کړئ، نو لړګی به دوه ټوټې شي. خو یو ژوندی امیبا چې ټوټه شي، نو دوه ژوندي امیبا ترې جوړېږي. حقیقت دا دی، چې وېش او ماته په دې دنیا کې یوازې د مړو شیانو لپاره ټاکلي دي.

یو شی چې ژوندی وي، هغه هېڅ کله څوک نه شي ماتولی. ژوندی شی که مات هم شي، هره برخه یې د ځان لپاره نوی وجود اخلي او له مخکې نه هم ډېر ستروالی مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارون

**په اسرائيلي کورنۍ کې نړۍ ته راغی. خو د قبطي پاچاهانو حلقه بګوش شو. په دې چې د دنيوي کاميابيو کيلۍ هغه وخت د قبطي حاکمانو په لاس کې وې**



قارون اسرائيلی مسلمان و. خو په قرآن کريم کې يې يادونه له فرعون او هامان سره راغلې ده.(عنکبوت) د دې وجه دا وه، چې ده له بني اسرائيلو لاره بېله کړه او له ظالم واکمن فرعون سره يې لاس يو کړ.

قارون ته په بائبل او تالمود کې قورح ويل شوي دي. د بائبل د روايت (خروج ٦: ٢١-١٨) له مخې قارون د حضرت موسی عليه السلام د تره زوی و. د حضرت موسی او قارون پلار دواړه سکه وروڼه وو. قارون په بني

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرائيلو کې وزېږېده او د هغه وخت لـه مخـې دی هـم مسلمان و. ده ته الله تعالی ډېـر غيرمعمـولي شخصـيت او زبردست صلاحيتونه ورکړي وو. په دغسې خلکو کـې زياتره وختونه په ډېر ناګاهانه ډول دا کمزوري رازرغونه شي، چې دوی د خپلو صـلاحيتونو بيـه پـه همـدې دنيـا کې ترلاسه کول غواړي. په قارون هـم همـدا کمـزوري برلاسې شوه. دی ورځ په ورځ له اسرائيلو لـرې کېـده او ځان يې فرعون ته نيږدې کـاوه. پـه دې چـې د دنيـوي کاميابيو چاپيـانې هغـه وخـت لـه فرعـون سره وې. د ده دې تګـلارې د ده لپـاره د عـزت او ثـروت دروازې وازې کـړې، او خـبره تـر دې ځايـه ورسـېدله، چـې د اقتـدار پرسـتي او مصـلحت‌سـازي وروسـتي بريدونـه يـې هـم واړول. د فرعون له وزير هامان نه وروسته دی د قبطـي پاچاهي دريم تر ټولو لوی رکن و. دی په خپل زعم کې په دې غلط‌فهمي مبتلا شو، چې دا مرتبه ده ته د خپلـو ځـانګړو صـلاحيتونو (قصـص- ۷۸) پـه اسـاس ورکـول شوې ده. حال دا چې اصلاً دغه مرتبه يې د ملي خيانت په بيه ترلاسه کړې وه. فرعون غوښتل چې بني اسرائيل له مصر نه ختم کړي او يـوه داسـې سـړي تـه يـې اړتيـا لرله، چې د اسرائيلو له قوم نه وي.

تر څو چې کله د بنـي اسرائيلـو د ختمولـو طرحـه عملـي کوي، نو ده سره دا جواز وي، چې ووايـي، چـې مـوږ دا هر څه د هېواد د نېکمرغي لپاره کـوو. کـه مـوږ لـه بنـي اسرائيلو سره قومي او نسلي دښمنی لرلی، نـو مـوږ بـه د هغوی د قوم يوه سړي ته په خپل دربار کې دومره لوړې مرتبې ولې ورکولې. قارون تـه چـې کومـه مرتبـه ورکـړل شوې وه، هغه د بني اسرائيلو د بربادي په بيـه وه، نـه د خپلې وړتيا په سر.

د قارون په اړه په قرآن کـريم کـې لانـدې بيـان راغلـی دی:

«يقيناً قارون د موسیٰ له قومه و، خو بيـا يـې پـر هغـوی تېری وکړ او هغه ته مـو دومـره خزانـې ورکـړې وې چـې چابيانې به يې پر يوې ځواکمنې ډلـې هـم درنېـدلې. يـو وخت چې قوم يې ورته وويل: (په دنيا) مـه نـازېږه! بـې شکه الله نازېدونکي نه خوښوي. او په هغـه څـه (مـال) کې چې الله درکړي، د اخرت کور ولټوه او پـه دنيـا کـې دې هم خپله برخه مه هېروه او ښېګڼه کـوه لکـه تـاسره چـې الله ښـېګڼه کـړې ده او پـه ځمکـه کـې فسـاد (جـوړول) مـه غـواړه، بـې شـکه الله فسـاد کـوونکي نـه خوښوي. ده ويل: دا خو ماته په هغې پوهې سره راکړی شوي چې زه يې لرم، ايا هغه ته نـه وه معلومـه چې بـې شکه الله له ده مخکې (هم) داسې قومونه هلاك کـړي دي چې له ده ډېر ځواکمن او په ډله کې ډېر زيـات وو؟ او له (داسې) مجرمانو خو د ګناهونو پوښتنه نـه کېـږي. نو (يوه ورځ) په خپل (بشپړ) سينګار کې د خپل قوم پـر مخ راغی نو کومو خلکو چې دنيايي ژوند غوښت، وويل: کاشکې زموږ هم هغه څه وای لکه قارون ته چې ورکړی شوي، رښتيا چې دی د لويې برخې خاوند دی. او چاتـه چې علم ورکړی شوی و، هغوی وويل: ستاسې په حـال افسوس دی، د الله ثواب د هغه چا دپاره ډېـر غـوره دی چـې ايمـان راوړي او نېـك عمـل وکـړي او دا پرتـه لـه صابرانو بل چاته نه ورکول کېږي. نو هغه او د هغه کـور مو په ځمکه ننويست. نو بيا د هغه نه څه ډلـه وه چـې د الله په مقابله کې يې مرسته وکـړي او نـه خپلـه د ځـان مرسته کوونکی و. نو چا چې پرون د هغه د مرتبې ارمان کړی و، اوس يې ويل: افسوس (موږ نه پوهېـدلو) چـې الله له خپلو بندګانو نه هر چاته چې وغـواړي روزي يـې پراخوي او (يا يې) تنګوي. که الله موږ سره ښه نـه وای کړي، نو اوس به يې موږ هم په ځمکه ننويسـتلي وای، افسوس دی ته نه پوهېږې چې کافران بری نه مومي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځینې وختونه داسې هم کیږي، چې حقیقت د عوامو په ګڼه ګوڼه کې ورک شي

حضرت مسیح ته خدای ډېرې زیاتې معجزې ورکړې وې. ده به د خټې په مرغه کې وپوکل، او هغه به په ربښتیا مرغه شو او هوا ته به والوته. په ړانده او پیس به یې لاس راتېر کړ، پیس به روغ شو او د ړانده به بینایي ببرته راغله. مړه انسان ته به یې وویل، پورته شه، او هغه به ببرته راژوندی شو او په پښو به ودرېده. ده به ویلی شوی، چې د چا په ګېډه کې څه دي او د چا په کور کې کوم شیان ذخیره دي (آل عمران- ۴۹) دا حیرانوونکې معجزې د دې خبرې په ثبوت کې وې، چې مسیح الهي استازي دی. خو یهودو په یوه بله پلمه له هغه نه انکار وکړ. هغوی وویل، چې «دی کوم دیني ښوونکی یا قانون ساز نه دی، بلکې شعبده باز دی، او یوازې د ورګلیل په ساده خلکو کې یې شهرت او مقبولیت موندلی دی.» خو د فلسطین د مشرکو رومیانو تاثر بیا بل څه و. د مشرکو قومونو عام مزاج دا پاتې شوی، چې په چا کې غیرمعمولي خبره ووینې، نو په هغه د خدای ګمان کوي. برنابا حواري په انجیل کې ویلي دي، چې د حضرت مسیح معجزو ته په کتو د هغې زمانې مشرکو رومي عسکرو به عیسی علیه السلام ته خدای او ځینو به ورته د خدای زوی ویل.

له حضرت مسیح نه وروسته چې کله سېنټ پال د مسیح مذهب ته رانښوت، نو هغه د مسیحیت د خپرولو لپاره تر ټولو اسانه نسخه دا ولیدله، چې د عام ذهنیت پر بنیاد باید د مسیحیت یو داسې تعبیر وړاندې شي، چې د لوی شمېر خلکو لپاره د منلو وړ وي. د حضرت مسیح له لاربښوونو سره سم، د مسیح لومړنیو پیروانو په موسوي شریعت باندې عمل کاوه. خو سېنټ پال اعلان وکړ، چې یو عیسوی د یهودي شریعت له ټولو بندیزونو ازاد دی. په دې زمانه کې ده د رومیانو او یونانیانو د متراپرستي (Mithraism) یوازې الفاظ بدل کړل او دغه عقیده یې په مسیحیت کې رانویسته او ویې ویل، چې مسیح د خدای زوی و او په دار باندې یې خپل ژوند له لاسه ورکړ او د بنیادم د پیدایشي- ګناه کفاره یې پرې کړه، اوس یوازې پر هغه ایمان راوړل د بنده د نجات لپاره کافي دي.

د حضرت مسیح ابتدایي پیروانو د سېنټ پال د دې مصنوعي مسیحیت ډېر سخت مخالفت وکړ، خو سېنټ پال په خپل دې مصنوعي مسیحیت کې د هغې زمانې د عوامو لپاره چې کوم راښکون او اسانې ایښې وه، د هغې پایله دا شوه، چې خلک په کثرت سره مسیحي دین ته رامات شول، تر دې چې د نویو مسیحیانو یو نوی سېلاب راهسک شو. په دې ولسي- رمه کې چې د ربښتینو مسیحیانو شمېر ډېر کم وو، نو هغوی یې په منځ کې ورک شول، خو د دریمې میلادي پېړۍ تر پایه پورې هم ګڼ داسې خلک وو، چې حضرت مسیح یې د خدای بنده او رسول مانه او د هغه د الوهیت عقیده یې غلطه ګڼله. خو د څلورمې پېړۍ په پیل کې چې کله د ختیځ روم پاچا قسطنطین (۳۳۷- ۲۷۲) د ځینو سیاسي انګېزو له مخې عیسوي شو، نو د سېنټ پال ایجاد کړي مسیحیت د سیاسي اقتدار سرپرستي هم پیدا کړه. په ۳۲۵ز کې د نیقیه (Nicaea) په شورا کې ۳۱۸ مسیحي استازي راټول شول، تر څو د مسیحیت دولتي عقیده تعریف کړي. په دې کې ۳۱۳ استازو د دولتي تفسیر ملاتړ وکړ او پاتې غړو یې مخالفت وکړ، او ایریس (Arius) پادري چې کله د دې عقیدې ننګولو ته راپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، نو قسطنطين ببرته په دې خبره غلی کړ، چې «که ته دا عقيده نه منې، نو له مورږ سره دوهم شی توره ده.»

قسطنطين چې مسيحيت ته غاړه کېښوده، نو په ټول رومي سلطنت کې مسيحي مذهب خپور شو. دې ټولو مسيحيانو په هماغه نوي مسيحي مذهب ايمان راوړی وو، چې لومړی سېنټ پال او بيا ترتولين (۲۳۰ – ۱۵۰) او داسې نورو وضع کړی وو. په دې ولسي توپان کې د رښتينو مسيحيانو د ژوندي پاتېدو لپاره هېڅ لاره نه وه. په لومړيو کې هغوی غلي پاتې شوو او وروسته بيا ورو په ورو له منځه لاړل.

د اسلام فضيلت دا دی، چې خدای پخپله د قرآن کريم د ساتنې مسؤليت اخيستی دی. (حال دا چې د تېرو اسماني کتابونو د خوندي کولو مسؤليت د هغوی پيروانو ته ور له غاړې و.) د اسلام لپاره دا خطر نشته، چې هغه دې کوم وخت بدل شي او يو بل شی دې ترې جوړ شي يا دې بيخي له منځه لاړ شي. خو د ساتنې دغه ژمنه يوازې د اسلام د متن لپاره ده، د اسلام د ډلې لپاره نه ده. دا بالکل ممکنه ده، چې پر اسلام هم يوه داسې زمانه راشي، چې له کتابي پلوه خو دې د اسلام متن (قرآن) په بشپړه توګه خوندي وي. خو له عملي پلوه دې داسې وي، چې د اسماني مذهب په ځای دې «د اکابرو مذهب» داسې رواج شي، چې عملاً هماغه د قرآن ځای ونيسي.- هغسې چې له نورو قومونو سره وشول. د قرآن کريم تلاوت خو دې کېږي، خو دين دې له اکابرو څخه اخيستل کېږي. حتی دا هم شونې ده، چې د اسلام دغه خودساخته بڼه په ولس کې دومره ومنل شي، چې د اسلام رښتيني پيروان په دې توپان کې ترې تم شي. سره له دې چې پوهېږي به چې دغه بڼه يې ناسمه ده، خو ډېر خلک به د دې لپاره له دې رمې سره يو ځای کېږي، چې د ولسي کثرت له امله به دنيوي ګټې په همدې بڼې پورې تړلې وي. علماء به يې د دې لپاره په خلاف نه غږېږي، چې وېرېږي به چې د مدرسو چندې به پرې بندې شي. رهبران به د دې لپاره خپل تعلق نه ورسره خرابوي، چې انديښنه به يې وي، چې د دوی بدرګه کوونکي به کم شي. ډېری د کتاب‌الله علم لرونکي به دا بڼه له کتاب‌الله سره موافقه نه مومي، خو د دې لپاره به په دې ډلې کې پاتې وي، چې د هېواد دننه او هېواد نه بهر د همدې حلقې له خلکو نه به ډېرې ګټې لاسته راوړلی شي.

ولسي مقبوليت هېڅ کله د رښتينولۍ سند نه دی پاتې شوی، بلکې د يوه غورځنګ ډېر خپراوی اکثر دا شک راولاړوي، چې په دې کې خو به کومه تېروتنه نه وي، ځکه چې حق منونکي همېش کم وي او د حق مونـــــــــدونکي تــــــــر هغـــــــو هــــــم کـــــم.

**«ورقه بن نوفل د اسلام پيغمبر ته ويلي وو: (کاش په هغه زمانه کې زه ژوندی اوسم، چې د خپلې قبيلې خلك تا له دې ښاره وباسي.) دا خبره ورقه د اسلام پيغمبر ته په ۶۱۰ز کې کړې وه، د ده وړاندوينه په ۶۱۶ کې په واقعيت بدله شوه.»**

**پاسنی پراګراف د کونستان ورژيل جارج له کتاب «د اسلام پيغمبر» نه اخيستل شوی دی. په ټولو پيغمبرانو کې دا يوازې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم خصوصيت دی، چې د ژوند هره پېښه يې د نېټو او تاريخ په ژبه کې بيانېدلی شي. د حضرت پيغمبر عليه السلام ژوند د تاريخ يوه پاڼه ده، نه مازې د پخوانيو کيسو ټولګه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زید بن ثابت انصاري رض په شپږو ژبو پوهېده

د هجرت په دوهم کال د روژې په میاشت کې د بدر غزوه پېښه شوه، چې د مسلمانانو شمېر، د مشهور روایت له مخې ۳۱۳ و، او د مخالفینو شمېر ۹۵۰، یانې درې چنده و. مسلمانان بریالي شول او ډېر زیات بندیان په لاس ورغلل. د هغوی لپاره یې د ازادي فدیه دا وټاکله، چې په بندیانو کې د چا لیک او لوست زده وي، هغه دې لسو مسلمانو ماشومانو ته لیک او لوست ورزده کړي. ځینو محدثینو د دې پېښې لپاره دا عنوان ټړلی: «د مشرک د استادي جواز»

> «علیکم بالفقه في الدین و حسن العبادة والتفهم في العربیة.»
>
> په دین کې تفقه ترلاسه کړئ، غوره عبادت وکړئ او عربي ژبه زده کړئ.
>
> د عمر فاروق وینا

نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې مدینې ته راغی، نو لومړنی کار یې چې وکړ، هغه د جومات جوړول و. د دې ودانۍ په یوه برخه کې سیوری او چوتره (صفه) جوړه شوه. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

گواکې د اسلام لومړنی استوګنیز ښوونځی و. ځینې مصنفینو د اهل صفه د ځلور سوه زده کوونکو یادونه کړې ده. د دې خلکو د ښوونې لپاره ښوونکي هم ګمارل شوي وو. عبدالله بن سعید بن العاص به لیک ورښوده. له عباده بن الصامت نه روایت دی، چې «رسول الله زه په دې مامور کړی وم، چې د صفې خلکو ته لیک ور زده کړم او قرآن پرې ولولم.» د هجرت په دوهم کال په مدینه کې د یوه بل ښوونځي دارالقراء ځرکونه هم لګېږي، چې د مخزمه بن نوفل په کور کې جوړ شوی و. عمرو بن حزم چې د یمن د والي په توګه واستول شو، نو د خپلو مسؤلیتونو په تړاو یوه لیکلې هدایتنامه هم ورکول شوه، چې د نورو چارو په خوا کې د ښوونې او روزنې د بندوبست حکم هم په کې شوی و. طبري د یوولسم هجري کال په پېښو کې لیکلي دي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل د زدکړو د مسؤل په توګه یمن ته ولېږه. معاذ به له یوې ولسوالۍ نه بلې هغې ته سفرونه کول او د مدرسو ځارنه او نظارت ور له غاړې و.

هغسې چې مشهوره ده، چې، د هجرت په سفر کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم سراقه بن مالک ته د سولې لیک ورکړ. د دې معنا دا ده، چې د اضطراري سفر په وخت کې هم پیغمبر علیه السلام قلم، رنګ او کاغذ درلوده. مؤرخانو د نبي کریم ص د کاتبانو د لیکلړ لپاره جلا ځپرکي ټاکلي دي. ځینو کاتبانو (سکرترو) به نوې نازلېدونکې وحي لیکله، ځینو به د رسمي لیکونو مسوده تیاروله او نبي کریم ص ته به یې ښودله،

## یو نصیحت

د قومونو برخلیك په خپل کردار سره جوړېږي. چې له هر ګوند سره یو ځای شئ، هر بیرغ پورته کړئ، په دې کارونو هېڅ هم لاسته نه راځي. زموږ رهبرانو په خامو او پخو کورونو د بلډوزر د چلېدو ویر اچولی دی، خو دې ته یې سترګې نه اوړي، چې د یوه قوم د اخلاقو ودانۍ چې ورسته شي، نو پر هغوی هېڅ څوك هم رحم نه کوي او ارومرو د فلك بلډوزر پرې خېژي.

زموږ اسلاف په ورستو کورونو کې پراته وو خو په زړونو یې واکمني کوله او نن ورځ موږ په اسمان هسکو ودانیو کې مېشت یو او بیا هم محکوم او غلام یو. دا یوازې د اخلاقي لوړتیا او ځوړتیا فرق دی. د زړه بړاس مو وباسئ. خو د دې بیه به ډېره لویه پرې کوئ.

هغه خلك چې اعصابي او پارېدونکي وي، د هغو لپاره د سیاست ډګر په هېڅ راز مناسب نه دی، دا خو هغه میدان دی، چې خورا ډېر زغم او حوصلې ته اړتیا لري.

بریا که د دې ګوند وي یا د هغه ګوند. که زموږ د اخلاقو حال همدا وي، نو ماته بیا هم موږ خوړلې ده.

هر څوك دې ځي او راځي، خو د [افغانستان] ملت به همدا ویر اچولی وي:

**څوک بېل شو له کاروانه، څوک حرم نه بدګمانه شو**
**چې خوی د زړه ساتو د قافلې رهبر کې نشته و**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينو به د زکات او محاصلو حسابونه ليکل. ځينو به د مالِ غنيمت د ثبت او وېش دنده ترسره کوله. ځينو به د خارجي واکمنو او قبايلو سردارانو ته ليکونه ليکل. ځيني به د فصلونو له رېبلو دمخه د تخمين (خرص) ياداشت نيوه.

زيد بن ثابت رض د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په امر عبراني ليک هم زده کړی و. په دې چې د عربو يهودو به خبرې په عربي ژبه کولې، خو ليک به په يې عبراني ژبه کې کاوه او له پيغمبر عليه السلام سره په ليکونو کې به يې له همدې ليکدود نه ګټه اخيستله. د مسعودي په وينا، زيد بن ثابت په عربي سربېره، فارسي، يوناني، قبطي، حبشي او عبراني ژبو هم پوهېده او له خارجي ډلو سره به يې د خبرو اترو په وخت کې د نبي کريم ص د ترجمان په دنده پرمخ وړله. د عبدالله بن عمرو بن العاص په اړه راځي، چې ده په عربي سربېره سرياني هم زده کړې وه. نوموړی د هجرت په ٦٥ کال په ٧٢ کلنۍ کې وفات شو.

---

## ډېری

**دېوال وهونکي خپل دېوال پخپله راړنګوي.**

**ډېری هغه خلک به د نورو تر پښو لاندې وځپل شي، چې ځان له نورو لوړ ګڼي.**
**دا به هغه ورځ وي،**
**چې کله خدای له خپلو پرښتو سره راښکاره شي، چې له ټولو انسانانو به وپوښتل شي، چې هغوی شاته څه پرېښودل او مخې ته يې څه ولېږل.**

## ټوکه

**حکيم صاحب ناروغ ته نسخه ورکوله، نو ورته ويې ويل «ګوره، په نسخه سم ځان پوه کړه.»**
**- ښه مهرباني وکړئ.**
**- دا به په اوبو کې ښه جوش کړې، او له چاڼ کولو وروسته به يې وڅښې. که خدای وغواړي، نو په اول خوراک سره به ارامه شې.**
**- ډېر ښه حکيم صاحب!**
**- او ګوره سبا سهار راشه او خبر راکړه.**
**- سمه ده.**
**بل سهار ناروغ بيا راغی، حکيم صاحب يې په نبض لاس کېښود او پوښتنه يې وکړه، ووايه، کوم فرق دې کړی.**
**ناروغ وويل، «نه حکيم صاحب، ذره فرق مې نه ده کړې، بلکې نن خو مې تکليف لا ډېر شوی دی.»**
**حکيم صاحب ډېر سوچ کې لاړ، په تندي يې لاس کېښود، اوږده ساه يې واخيسته او د مايوسي په ژبه يې وويل، ښه سمه ده، ته نسخه راښکاره کړه.**
**ناروغ وويل، «نسخه؟ حکيم صاحب، نسخه خو ما ستاسې په وينا سمه جوش کړه او ومې څښله.»**
**حکيم صاحب، وارخطا سترګې پرې رابرګې کړې، «څه دې وويل! نسخه دې وڅښله.»**
**- هو حکيم صاحب، نسخه مې ښه جوش کړه، څرنګه چې تاسې ويلي و چې...»**
**حکيم صاحب په غوسه کې ورته وويل، «هی بدبختنه! نسخه هم نو چا جوش کړې او څښلې ده، په نسخه کې چې کومه دوا ليکل کېږي، هغه سړی استعمالوي، نه د نسخې پاڼه.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې د ژوند لوری یې د اخرت په لور شي

په قرآن کریم کې د مؤمنانو په تعریف کې ویل شوي دي، چې کله د دوی په مخکې د خدای نوم واخیستل شي، نو زړونه یې لړزیږي (انفال – ۲) او چې کله د خدای امر ورته راشي، نو سمدستي هغه ته سرټیټوي، ان که دا امر یې له خپلې خوښې سره ټکر هم ولري. (نساء – ٦٥)

حضرت عایشه رض فرمایي، چې یو سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او مخامخ ورته کېناست. بیا یې وویل، چې ماسره څو مریان دي. هغوی له ماسره خیانت کوي او زما خبره نه مني. په دې خبره زه هغوی ته بد رد وایم او وهم یې. نو د دغو مریانو په برخه کې به زما حال څه وي. نبي کریم ص ځواب ورکړ، چې کله د قیامت ورځ راشي، نو د هغوی خیانت او نافرماني به وشمېرل شي. نو که ستا سزا د هغوی د جرم مطابق وه، نو معامله به مو برابره، برابره شي او که ستا سزا د هغوی له جرم نه ډېره وه، نو هغوی ته به اجازه ورکول شي، چې په هماغه اندازه له تانه خپل غچ واخلي. د دې خبرې په اورېدو هغه سړي په چیغو، چیغو وژړل. او بیا یې وویل:

«یارسول الله، ما اجدلی ولهو لاء خیرا من مفارقتهم، اشهدک انهم کلهم احرار» (احمد، ترمذي)

ژباړه: اې د خدای رسوله! زما او د هغوی ترمنځ له بېلتون نه بله بهتره خبره نشته، نو زه تاسي په شاهدي نیسم، چې هغوی ټول له نن ایسته ازاد دي.

## د هر انسان لپاره لومړنی کار دا دی، چې خپل ځان وپېژني

**ابو تمام (۲۳۱- ۱۸۸هـ) دمشق ته نیږدې په یوه کلي کې وزېږېده. نوموړی نېستمن سړی و او د قاهرې په عمرو بن عاص جومات کې به یې اوبه ډکولې. د خپلې زمانې د دود له مخې یې په شاعرۍ کې خپله طبعه وازمایله، تر دې چې شاعر شو. د ده د شعرونو دېوان چاپ شوی دی، او په دې سربېره یې دوه نور اثار (الحماسه) او (فحول الشعراء) هم شته، چې د جاهلیت او اسلام د زمانې د شاعرانو غورچاڼ یې په کې راوړی دی. دا غورچاڼ دومره غوره دی، چې کله چاپ شو، نو خلکو وویل «د ده انتخاب د ده تر خپلې شاعرۍ هم بهتره دی.»**

**د الحماسه په نوم یې چې کوم غورچاڼ دی، دغه غورچاڼ ده تصادفا کړی و. یو ځل ده د یوه ملګري کره اړولي و. له هغه سره د بېلا بېلو شاعرانو د کلام ذخیره پرته وه. دا چې بل کار یې نه و، نو سمدستي یې غورچاڼ پیل کړ. ځینې وختونه داسې کېږي، چې انسان په یوه کار کې خپل ټول ژوند تېر کړي، خو دومره ډېر ارزښت او بیه نه لري. خو د دې برعکس ځینې وختونه یو کار مازې په سرسري ډول شوی وي، او ډېر ارزښتناک ثابت شي.**

**زیاتره وختونه د انسان لپاره غوره خبره دا وي، چې د خپل ذوق د کار لپاره د کریډیټ اخیستلو تمه ونه کړي. بلکې د یو بل چا په کار کې دې ور ملګری او همکار شي. خو ډېر کم خلک دي، چې دغسې واقعیت بیني ته دې ځان راضي کړای شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حقیقت پسندي

د بعثت په دریم کال چې کله عمر بن الخطاب رض په اسلام مشرف شو، نو د مسلمانانو شمېر شاوخوا ثلوېښت تنه وو. خو د مخالفینو له ډاره به مسلمانانو په پټه خپل عبادتونه کول.

دا چې حضرت عمر ډېر جذباتي او زړور سړی و، نو ده وویل «چې حق له موږ سره دی، نو موږ ولې پټ پاتې شو. موږ به په خانه کعبه کې په ښکاره عبادت کوو.» نبي کریم صلي الله علیه وسلم چې دا خبره واورېده، نو منع یې کړ او ویې فرمایل:

«یا عمر انا قلیل» یانې اې عمره! زموږ شمېر کم دی.

د خندق په غزوه کې چې کله دواړه پوځونه د خندق دواړو غاړو ته ولاړ وو، نو د مشرکینو له پوځ نه د هغوی مشهور جنګیالي عمرو بن ود په اس سپور راووت او اواز یې وکړ: من یبارزني (څوک به له ماسره مقابله وکړي) علي بن ابي طالب وفرمایل: انا یا رسول الله (زه، اې د الله رسوله!)

نبي کریم ص وفرمایل: اجلس فانه عمر بن ود (ته کېنه، ځکه چې هغه عمرو بن ود دی)

دا وه د خدای د پیغمبر تګلاره. خو نن ورځ د هغه پیروان خپل کمال په دې کې لټوي، چې د حالاتو له جاج اخیستو دمخه د مقابلې میدان ته ور ودانګي، اتي یې که له بربادي پرته نور هېڅ شي هم په برخه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې خبره پاچا په ژړا شو

د تغلق کورنۍ په وروستۍ زمانه کې چې کله د دوی د واکمنۍ زوال پیل شو، نو د فیروز تغلق یوه فیوډال دلاور خان په مالوه کې په ۱۴۰۱ز کې خپلواک حکومت جوړ کړ. د ده پایتخت لومړیو کې دهار او وروسته مانډو و. له دلاور وروسته هوشنګ او له هغه وروسته د ده زوی غزني خان واک ته ورسېده. په دې زمانه کې محمود خلجي د ده وزیر و. وزیر ته چې فرصت په لاس ورغی، غزني خان یې وواژه او پخپله په تخت کېناست.

سلطان محمود خلجي زړور جنګیالی و او په شخصي ژوند کې ډېر نېک او عادل سړی و. ده ټول ژوند په کېمپ کې تېر کړ او په ۱۴۶۹ز کې وفات شو.

د سلطان محمد تغلق په زمانه کې په ۱۳۴۷ز کې په دکن کې بغاوت وشو او حسن ګنګو د خپلواک حکومت بنسټ کېښوده او دعوا یې دا وه، چې د ایران د لرغوني پاچا بهمن له اولادې نه دی. ده ګلبرګه خپل پایتخت ونوماوه. د دې کورنۍ احمد شاه بهمني بیدر ښار اباد کړ، چې د ګلبرګه په ځای د بهمني امپراتورۍ پایتخت شو. د همدې کورنۍ یو واکمن نظام شاه بهمني و. نوموړی په ۱۴۶۲ز کې واک ته ورسېده، خو واک ته له رسېدو دوه میاشتې وروسته ناڅاپي مړ شو.

د مالوه واکمن محمود غلجي به له حلالو خوړو سره ډېر احتیاط کاوه. په ۱۴۶۱ کې ده په بیدر برید وکړ، چې د نظام شاه بهمني پایتخت و. د محاصرې په اوږدو کې دا مسئله راغله، چې د ځان لپاره حلال خواړه له کومه کړي. د حلالو سبزیو کومه ذخیره چې دوی سره وه، هغه د محاصرې د اوږدېدو له امله ختمه شوې وه.

ده له مخکې نه د دې ستونزې اټکل کړی و، نو د خپل عادت له مخې یې ځان سره خاوره او لرګي وړي وو. ده د لرګي په تختو خاوره هواره کړه او

زیاتره وختونه داسې کېږي، چې انسان په وړو، وړو شیانو کې د «شریعت» ډېر خیال ساتي. خو په لویو، لویو کارونو کې د خدای د شریعت پروا نه ورځي. انسان په داسې چارو کې له «وېښته نه د پوستکي» د اړولو تر بریده مذهبي چلند کوي، چې شخصي ګټو ته یې زیان نه په کې رسېږي، چې په دنیوي موخو کې خنډ نه ورته جوړوي، چې داسې بیه یې نه پرې کوي، چې د دین په خاطر له یوه کرکجن انسان سره مینه وکړي او له خپل یوه محبوب کس سره خپله د زړه اړیکه پرې وشلوي. لنډه دا چې هغه دین چې په ژوند کې یې خلی نه شي، د هغه په پیروي کې دی ډېر مخکې، مخکې وي.

خو هغه دین چې د ده له خپل ژوند سره په ټکر کې راځي، چې د «دا وکړه او هغه مه کړه» غوښتنه ورنه کوي، له هغه سره د ده هېڅ دلچسپي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبزي يې پرې وکرله. خو دې سبزي د ده اړتيا نه پوره کوله. بلاخره يې په دې سيمه کې يو بزرګ مولانا شمس الدين کرماني راوغوښته او هغه ته يې وويل، چې ماته يو داسې کس راوښيئ، چې د حلالو پيسو ځمکه ورسره وي او په ما يې خرڅه کړي. زه هغه ځمکه اخلم او د ځان لپاره سبزي پرې کرم. مولانا شمس الدين کرماني ځواب ورکړ «تا پر يوه مسلمان هېواد بريد کړی دی. دلته راغلی يې د خلکو وينې تويوې او اباد کورونه ورانوې. له حرامو خوړو نه د ځان ساتنې دومره فکر درسره دی، خو د مسلمانانو د خونريزي هېڅ فکر درسره نشته.» په دې خبره پاچا په ژړا شو.



**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**